
Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



په نامه د رحمان او رحیم خدایے

# زهٔ تر کومې به نزیم

محمد الیاس

د کتاب حقوق د لیکوال په حق کښې خوندي دي

Email: gransamiullah@gmail.com
0345-9523153 / 0304-5241487

ketabton.com - The Digital Library

# زۀ اترګومي به نزيم

محمد الیاس
03462860464

ناشر سميع الله ګران
کمپوزنګ لقمان حکيم
ټائټل ابراهيم عابد
پروف ریډنګ محمد الياس ثاقب
د چاپ کال جولائي 2026
تعداد 500
بيعه 600 روپی
چاپونکي ګران خپرندویه ټولنه
Email: gransamiullah@gmail.com
0345-9523153 / 0304-5241487

**د موندلو درکونه:**

کتاب کور پېښور
يونيورسټي بک ايجنسي پېښور
ادب محل پېښور
ډسټ ان بک پېښور
شعيب سنز مينګوره سوات

ketabton.com - The Digital Library



# ترون

د دې کتاب ترون د خپل ماما

نثارمحمد نثار په نوم

کووم چې بلها ناچاپه زړۀ راښکونکي شاعري

ئې د پښتو ادب د شتمنۍ یوه لویه برخه ده.

محمد الیاس

# ډالۍ

دا کتاب د خپلې علاقې د ادبي تنظيم

«آواز ملاکنډ»

ټولو غړو ته د هغوي د ادبي هلو ځلو او پښتو ژبې د

خدمت په خاطر ډالۍ کوؤم

محمدالياس

ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library



# روحاني مينه

وائي چې: "شاهزاده په نا ليدلي مخ مئين شو"
بالکل د دې قول په مصداق کۀ څۀ هم د ګران محمد الياس صاحب مخ مبارک راته نۀ يادېږي چې ليدلے مې وي خو د دوي د شاعرۍ تر مخه زما ورسره روحاني مينه پېدا شوه او دا يقين مې هم پوخ شو چې
د شاعر زړۀ د قام د زړۀ سره درزېږي ځکه چې شاعر د قام سترګې وي اؤ لاس يې همېشه د قام په نبض پروت وي. د شاعر خپل نظر هغه څۀ ويني چې د عام اولس د نظر په احاطه کښې نۀ راځي.
ما چې څۀ رنګ په اول ځل د موصوف مسوده کهلاؤ کړه او وړومبے شعر يې چې کوم په نظر راغلو زۀ په دعوې سره وئيلے شم چې هغه شعر نه وۀ بلکه د يوې رنځورې ټولنې د رنځ د تشخيص راپور وۀ چې په کښې ليکلي وو چې څو پورې د دې وجود خپل داخلي جراثيم د خارجي حمله اورو جراثيمو

ketabton.com - The Digital Library



ملګرتیاونۀ کړي تر هغې پورې مجال شته چې دې وجود ته زیان ورسوي.

هغه راپور د شعر په ژبه څۀ داسې د ے:

وژلو ته زمونږه لور په لور سرے ولاړ دے
د هر یو سره وګورئ د کور سرے ولاړ دے

په دې تناظرکښې مونږ دا هم بغېر د څۀ باک نه وئیلے شو چې شاعرکله په حقیقي معنوکښې شاعر وي نو هغه بلا شبه یو ټولنپوهه یعنې ماهر سماجیات هم وي.

هوښیاران وایي چې:

`د کور نه چې غلا کېږي سرقه یې د کوره وي`

زمونږ د ځانګړي شاعر مذکوره شعر ته که په ژور نظر وکتلے شي نو هو بهو دغه اصول ترېنه راوځي.

بلکه یواځې دا هم نا د تاریخ په اوږدو کښې د پښتنو او مسلمانانو د هرې ماتې او زوال شاته ټول اسباب د خپلو غدارانو په صورت کښې په نظر راځي.

یواځې دا نه چې شاعر فقط د ماضي په تېروتنو ګوته وچتوي بلکه په حال کښې د خپل ټولنیز ژوند حقیقي دښمن هم په ګوته کولے شي لکه په لاندېني شعرکښې یې چې په علامتي انداز کښې په ګوته کړے د ے.

ketabton.com - The Digital Library



الیاسه! مونږ په ژوند کښې چرته نۀ شو سپینېدلے
دا مونږ ته چې په هر ځاے کښې یو تور سرے ولاړ دے

زمونږ د ښاغلي شاعر د وړومبي غزل نه اندازه لګېدلے شي چې که ټول کتاب یې ولوستلے شي نو د ژوند د پاره یوه مکمله نظریه ترېنه سازېدلے شي.
الله دې وکړي دا کتاب "زۀ ترکومه به نړېږم" دګرانو لوستونکیو په توقعاتو پوره پرېوځي.

**ډاکټر طارق محمود دانش**

چیئرمېن پښتو څانګه
ګورنمنټ پوسټ ګرېجوېټ کالج بنوں
7 جون 2026ء

ketabton.com - The Digital Library



# زۀ تر کومې به نړېږم

پښتو شعر و ادب په تېرو درې څلورو لسيزوکښې د سماجي، سياسي او فکري بدلونونو په وجه د نوې رنګارنګۍ سره مخ شوے دے . د دې بدلونونو په بهيرکښې ځينې داسې شاعرانه غږونه هم راپورته شوي دي چې د خپل وخت درد، د خپلې خاورې زخمونه، او د خپل اولس فرياد يې په ډېر شدت سره وړاندې کړے دے اګرچې د شعر د فن او هنر ډېر خيال يې نۀ دے ساتلے خو د خپل قام، خاورې او دود دستور سره خپل جذباتي وابستګي يې نبغ په نبغه بيان کړې ده ، د محمد الياس شعري ټولګه "زۀ تر کومې به نړېږم" هم ددې فکري او احساساتي انقلاب او تحريک يو ښکارۀ مثال دے ، چې پکښې د شاعر د ذاتي احساساتو په څنګ کښې د ټولنې اجتماعي دردونه هم په زړۀ راښکونکي انداز کښې بيان شوي دي.

دا کتاب يوائې د عشق و محبت او دردونو د احساس د شاعرۍ مجموعه نۀ ده، بلکې د يوې زخمي زخمي ټولنې عکاسي هم

ketabton.com - The Digital Library



کوي .په دې کتاب کښې شاعر د وطن د بد ترينو حالاتو، بې امنۍ، بې انصافۍ ، فکري انحطاط، او د انسان د بې وقعتۍ د کمېدو په حقله مهم سوالونه راپورته کوي.

دلتـــه کښې کـــه امـــن وے نـــو اومنـــۍ
شـــاړې د وطـــن بـــه مـــو ودانـــې وې

اوګـــوره د بـــل د پـــاره تـــوئې شـــولې
دومـــره پښتـــنې وينـــې ارزانـــې وې

دېخـــوا د اټـــک نـــه کـــربلا وه او
هلتـــه پـــه لاهـــورکښـــې ګـــډاګانې وې

د کتاب نوم "زهٔ ترکومې به نړېږم" پخپله يو علامتي سوال دے چې د انسان د مزاحمت، د زغم د حد، او د روانو مشکلاتو په حواله د يوې مسلسلې مبارزې پېغام دے.
ددې کتاب موضوعاتي جائزه که واخستے شي نو پښتون قام او وطن ته راپېښې ستونځې يې په واضح اندازکښې په ګوته کړې دي.

ketabton.com - The Digital Library



په دې کتاب کښې شاعر خپل ټولنېز غمونه او سياسي بدعتونه د خپل زړه د درد او سوز سره بيان کړي دي . د ظلم، بې انصافۍ، او د طاقت د بې ځايه استعمال خلاف يې غږ پورته کړے دے .د پښتون وطن بد امني، جنګونه ، او سماجي بې انصافي د دې شعرونو يو مهم پس منظر مخښې ته راوړاندې کوي.

قطعه

دلتـــه چـــې ځـــوک امـــن لـــه نعـــرې وهـــي
دلتـــه بيـــا د هاغـــه ســـړي ژونـــد نـــۀ وي
دلتـــه چـــې خبـــره ځـــوک د حـــق كـــوي
ځنګـــه بـــه الياســـه فکرمنـــد نـــۀ وي

د الياس صيب په شاعرۍ کښې وطن يواځې جغرافيه نۀ ده بلکې يو ژوندے احساس دے .هغه د خپل وطن د زخمي حالت ذکرکوي او د امن، خوشالۍ او اميد ارمان پکښې هم ځرګندوي او په دې هم خپل قاري پوهوي چې دا مسئله به د کوم ځاے نه سمېږي
لکه چې وايي

ketabton.com - The Digital Library



امـن بـه راشـي سـل پـه سله پـه دې وران وطـن کښـې
کـــه د اليـــاس د زړۀ خبـــرې لـــه ممـــبره وشـــي

د موصوف د زړۀ درد کله کله د سوال او احتجاج په شکل کښې هم مخښې ته راځي.
په دغه حواله د شاعر د زړۀ دنیا ډېره فعاله او ژوندۍ هم ده د امېد او نااميدۍ، د يقين او ګمان، او د زوال او بقا ترمېنځ کشمکش يې په مختلفو کلامونو کښې ښکاري. شاعر د خپل وجود معنا هم لټوي او د ژوند په فلسفه د ځان پوهولو کوشش هم کوي.
لکه چې وايي

پــه تاســو بانــدې چــا کــړے ستــم خبــرې اوکــړئ
راپاڅــئ لــږ پــه دغــې بانــدې هــم خبــرې اوکــړئ

قسـمت تـه هـر څـۀ مـۀ پرېـږدئ پخپلـه هـم څـۀ اوکـړئ
پـه سـتونځو د خـپل کـورکلي او چـم خبـرې اوکـړئ

ترڅـو پـورې بـه ژونـد وي زمـونږ داسـې پـه تيـارو کـښې
د خـداے د پـاره لـږ پـه دې تـورتـم خبـرې اوکـړئ

ketabton.com - The Digital Library



پښـــتون ولــي بدحالــه دے پــه ښــکلي پښــتونخوا کښــې
نــو مــا ســره زمــا پــه دغـــه غــم خبــرې اوکــړئ

د رور ســـره ملګـــرو رورولـــي کـــه پـــري جـور يـــږي
نـو خبـر دې کـه پـه داسـې وخـت د زغـم خبـرې اوکـړئ

په ځينو ځايونوکښې شاعر د ديني او اخلاقي موضوعاتو تذکره هم کړې ده. چې هغۀ پکښې د بې پښتوکارونو ، ظلم، او منافقت په ضد ولاړ ښکاري او په واضحو ټکوکښې د اخلاص، انصاف او انسانيت دعوت ورکوي.

چـــې دې نســـلونو تـــه مېـــراث ورســـي
د شـــر شـــدت قيصـــې دې داســـې نـــۀ شـــي

پکښـــې خبـــرې چـــې ســـورو تـــه رســـي
د رقابـــت قيصـــې دې داســـې نـــۀ شـــي

يـــو بـــل چـــې وژنـــو پـــه وړو خـــبرو
د عـــداوت قيـــصې دې داســـې نـــۀ شـــي

ketabton.com - The Digital Library



که څهٔ هم دا کتاب زیات تره د سماجي او اصلاحي موضوعاتو بڼه لري خو د مینې محبت پاستهٔ، راڼهٔ ،خوارهٔ ، فطري او افاقي رنګونه پکښې هم هم ځاے په ځاے په نظر راځي .دغه مینه که چرته د یو مجسم محبوب دپاره وي نو چرته د وطن ، خاورې او اولس دپاره په دغه لفظونوکښې ځلېږي .

د الیاس صیب شعر انتهایي سادهٔ دے، عام دے او د عالمانه ثقالت نه پاک هم دے .لوستے او نا لوستے هر سړے به پرې پوهېږي . . هغه چرته چرته د تشبیهاتو ، استعارو او علامتي بیان په ذریعه خپله مدعا هم بیان کړې ده.

ثبوت یې دا دے

ما ته چې د خپله ځانه ګرانې وې
هاغه د یار سترګې قاتلانې وې

ستا د نهٔ راتلو ورته چا وېلي وو
اوښکې چې د سترګو راروانې وې

یو خوا د الیاس زړګي ماتم کړو
بل خوا ته د خلقو خنداګانې وې

ketabton.com - The Digital Library



د الیاس د اسلوب نه داسې ښکاري لکه چې دے کل وقتي شاعر نۀ دے ځکه یې فکر و قلم چرته چرته د کلاسیکیت نه او په ځینو ځایونو کښې د جدت او روایت نه اغېزمن ښکاري .د لفظونو او خیالونو تکرار، یې هم په کلام کښې ځاے په ځاے ځلېږي.

نو زۀ ددغې پورتنو تاثراتو او بېلګیو په رڼا کښې دا ویئلے شم چې

"زۀ ترکومې به نړېږم" یواځې د شعرونو یو کتاب نۀ دے ، بلکې د یو فکري او شعوري سفر نوم دے .دا کتاب د پښتو شاعرۍ په معاصر ادب کښې اضافه په دے حواله ده چې دا د پښتو کتاب دے او دیو داسې لیکوال کتاب دے چې مونږ ته یې د خپل قلم او فکر زور په لاندینیو کتابونو کښې هم ښودلے دے.

۱.شور مې د قلم په ژبه راوله(شاعري)چاپ۲۰۰۸ء

۲.د رڼا رنګونه (شاعري)چاپ ۲۰۲۲ ء

۳.. فکر مې سندره شوه (شاعري) چاپ ۲۰۲۳ ء

۴.دېوالونو ته لګیا یم (هائیکوګاني) چاپ ۲۰۲۴ ء

۵- د معذورۍ په اړه د ماشومانو کتاب

( د انګرېزۍ نه پښتو ته ژباړه)چاپ ۲۰۲۴ ء

۴- پردے حق ( افسانې) چاپ ۲۰۲۵ ء

۷-څه یوه قیصه خو نه ده(هائیکوګاني)چاپ ۲۰۲۵ ء

۸-د ناکامۍ په اړه د ماشومانو کتاب

ketabton.com - The Digital Library



( د انګرېزۍ نه پښتو ته ژباړه)چاپ ۲۰۲۶ ء

دا کتاب "زۀ ترکومې به نړیږم" د داخلي او شخصي احساساتو سره سره د اجتماعي شعور او سماجي پوهې دستاوېز هم دے . چې موصوف پکښې د خپلې زمانې دردونه په هنري ژبه کښې بیان کړي دي او لوستونکي ته د فکر، احساس او سوالونو جوابونو نوې نوې لارې وربښايي .دا کتاب مونږ ته دا پېغام هم راکوي چې انسان که هر څومره د ستونځو او دباؤ لاندې ژوند کوي خو بیا هم د سوال ، مزاحمت او ژوندکولو حق لري .او هم دا د شاعر دکتاب د سرخط اصل روح دے .

"زۀ ترکومې به نړیږم"

الله دې د محمد الیاس د قلم فکر او معاش زور نور هم سېوا کړي چې د پښتو ابۍ په پنګه کښې د خپلې برخې اضافه وخت په وخت کوي .

الیاس سره د نن په ترقۍ بحثونه مۀ کړئ
الیاس سره د نن په بنیادم خبرې اوکړئ

**ډاکټر اقبال شاکر**

مرستیال لیکوال " مل " ملاکنډ

۲۰۲۶/۶/۷

ketabton.com - The Digital Library



# د الیاس نوم خوږ دے

زما د وړوکوالي اؤ اسکول جانان جانان ملګرے الیاس علي چې ما ورته ورور وئیلے دے په ما ډېر زیات ګران دے د هغۀ د خاطره په ما دا نوم الیاس ډېر خوږ لګي .بیا وروستو راسره د ملګري محمد الیاس ثاقب صېب هم ښۀ ادبي تعلق جوړ شو اؤ اوس له خېره د سوات ادبي قلمي یاران (ساقي) د مجلس یاران یو-

تېرکال ۲۰۲۵هم په دې جون میاشت کښې راته مشر ملګري شاعر اؤ ادیب افسانه لیکونکي محمد الیاس صېب زما په غوښتنه خپل څو چاپ کتابونه راولېږل ما ولوستل - څۀ خو د موصوف د نامې سره زما مینه وه او څۀ د لیکوال ملګري لیکل دومره ساده زړۀ راښکونکي اؤ مزه دار وو چې په ما ډېر ښۀ ولګېدل .دېوالونو ته لګیا یم ، او څه یوه قیصه خو نۀ ده، ئې د هائیکوګانو مجموعې دي په هائیکو ئې ډېرکار کړې دے نوي تجربې ئې هم پکښې کړې دي .پردے حق، ئې افسانې دي افسانې ئې هم ښکلې لیکلې دي .د کریستېین نېپر **A kids book**

ketabton.com - The Digital Library



about Disability پښتو ترجمه ئې هم کړې ده. د رڼا رنګونه، اؤ فکر مې سندره شوه، ئې شعري مجموعې دي وړومبۍ شعري مجموعه شور مې د قلم په ژبه راوله، زما له نظره نۀ ده تېره شوې-
ژوند ئې د مسافرۍ دے په مرچنټ نيوي کښې د کپتان په حېث کار کوي په خپل محکوم او مظلوم قام، جنتي وطن، پښتونخوا اؤ بې اسرې ژبه پښتو مئين دے. په ډېر ساده اؤ اسان طرز ليکل کوي خپل ساهو پيغام اولس ته د وړاندې کولو اؤ رسؤلو هڅې هاندې کوي د مسافرۍ خوارۍ مزدورۍ روپۍ په خپله ژبه او ادب شيندي. خو دغه ژبه پښتو هم دومره پښتنه، پت پاله اؤ ننګياله ژبه ده چې تل ئې خپل مئينان ژوندي اؤ هسک ساتلي اؤ د ژوند پر، هر ډګر ئې د عزت اؤ غېرت نمونې اؤ د دستار سرې ياد کړې دي.
دا نوې مجموعه "زۀ ترکومې به نړېږم" هم ما ولوستله، د ښکلي شعرونو ښائسته فکرونو اؤ رنګارنګ ګلونو ګلدسته ده. د مور اؤ پلار په خدمت کښې بلا خوند دے په سترِيا پکښې ثوک نۀ پوهېږي خو دغه خدمت هم د بختورو په نصيب وي.

تا ته به هم ستا بچي په ښۀ نظر کاتۀ کوي
ژوند کښې بس قدم په قدم پلار ته که دې وکاتۀ

د باباجان په عنوان ازاد نظم ترجمه هم پۀ دغه موضوع دے.
په خپله مورنۍ ژبه مئين دے د پردۍ ګملې د ګلاب نه ورته د خپلې ماتې کټوۍ کشمالي ښکلي ښکاري.

ketabton.com - The Digital Library



ژبـــه رالـــه خـــدائے خپلـــه راکـــړې ده
ښنگـــه بـــه ســـپوږمۍ تـــه قمـــر وایمـــه

د اولس بیدارولو جذبه لري اؤ ځان د ټولنې ذمه دار وګڼي ځکه چې د محترم مشر ارواښاد عبدالرحیم مندوخیل وینا ده چې کوم خلق سیاست نۀ کوي بیا وربانديې نور خلق یا قامونه سیاست کوي.

خلقـو تـه لگیـا یمـه چـې خپـل حقونـه وغـواړئ
ځان لـه مې اخستې ده پۀ زور بانـدې د شر قیصـه

پـه ټولنـه کښـې د مـزدورکسـان دهقـان زمینـدار پـه اهمیت خبر دے د طبقاتي نظام پر ضد دے د زمیدار همت اؤ محنت ئې دومره په اسان او ښکلي ډؤل ستائیلي دي چې د سهل الممتنع ښکلې مثال دي اؤکه دغه نظم د ماشومانو د کتاب، نصاب برخه شي نو غوره به وي، زۀ یؤ زمیدار یمه.
یا لکه بل ځائے لیکي

ډک محفـــل کښـــې اوازه پـــه غریـــب وشـــوه
تـــۀ پـــرون ولـــې د خـــان بیگـــارکښـــې نـــۀ وې

ketabton.com - The Digital Library



د پښتونخوا وطن د خائنانو اؤ بادارانو په کار اؤ کردار ګوته پورته کوي که حمید ګل دے اؤ که ګل بدین د پښتنو لپاره بې خوشبوګلونه وو څهٔ که نامې ئې د ګلونو سابقې لاحقې لري خو په لاسونوکښې ئې د ګلونو پهٔ ځاے بمونه وو د وطن د باشعوره اولس زړونه وحید ګل اؤ ګل زار عالم ګټلي دي .

تـر اوسـه سـتا بـل کـړے اورمـړ نـهٔ شـو د جنګونـو
تـر اوسـه مـې پـه ښـارکښــې حمیـد ګلـه تماشـه وه

زمونږ د صوبې خیبر پښتونخوا د نوم سره د خیبر په سابقې ترلو ځنې خلق د شک اظهارکوي موصوف هم دغه خیال لري چې

نــور هــم ځایونــه دي خــو دا ورســره ولــې تــړي
په پښـتونخوا کښـې د خیبـر پـه قیصـه پوهـه نـهٔ شـوم

زما په خیال دا دومره لویه ستونزه نهٔ ده . بلکې دره خیبر زمونږ د وطن تاریخي برخه ده اؤ لوے ادبي اهمیت هم لري . مونږ پرې و یاړو .
یؤ بل شعر لیکي چې

قسم دے زړهٔ مې چوي د بې وسئ په داسې وخت کښـې
یـه خدایـه چـې غـریـب سـړي تـه خـان پـه ژړا کېـږي

ketabton.com - The Digital Library



مونږه خو تل دا لیدلي چې غریب سړي خان ته ژړلي دي خو خان ...
بادار خوار غریب ته نۀ دي ژړلي تل ئې خواران غریبان تنګ کړې او
ځوروليدي خو که بیا هم داسې بې وسي وي اؤ په ژړا شو نو دا دومره
لویه خبره نۀ ده چې زړۀ پرې وچوي ـ د ګناه کفاره به ئې وګرځي
...فکري تضاد په ډاګه کوي ...
غرض ملګرے محمد الیاس صیب د قام په درد دړمند هم دے اؤ فکر
مند هم، د قام په نړېدو زهیر هم دے اؤ په ویر هم، الله پاک دې ورله
لوے عمر اؤ روغ صحت ورکړي چې د پښتو ژبې اؤ ادب پۀ کار راشي

خاؤرې

**اتل افغان**

ځلاند کور

شاه ډېرۍ کبل سوات

ketabton.com - The Digital Library



# خپلې خبرې

ګرانو لوستونکو!

"زهٔ ترکومې به نړېږم" زما د شاعرۍ هغه سفر دے چې ما پکښې د خپل زړهٔ درزاګانې، د خپل وطن دردونه، مزاحمت، د مينې احساسات، د امن ارمانونه، د پښتون قام د راويښولو او د خپل قام د ژوند بېلابېل رنګونه راټول کړې دي.زما دغه شاعري زما د ژوند د هغو شېبو تصويرونه دي چې ما محسوس کړي، زغملې مې دي او بيا مې د لفظونو په جامه کښې خوندي کړې دي

ما هميشه دا هڅه کړې ده چې زما شعر کښې دې يو پېغام وي او دغه پېغام دې د پښتنې ټولنې د بېدارولو او پرمختګ ذريعه جوړه شي .ځکه به تاسو زما په دې ټولګه کښې کله د مينې نرمې وينئ، نو کله د وطن د حالاتو درد، کله د امن غږ، او کله د يو عام انسان د ژوند د ستونزو قيصې.

زهٔ دا دعوىٰ نهٔ کوم چې ګنې زما شاعري به ښه وي. کېدے شي په دې کتاب کښې فني، فکري يا د ژبې نيمګړتياګانې هم موجودې وي، ځکه چې د منزل په لور زما دغه سفر لا ختم شوے نهٔ دے. خو دومره باور ضرور لرم چې ما خپل احساسات په رښتينولۍ او اخلاص سره د شعر په ژبه بيان کړي دي. اوکوشش

ketabton.com - The Digital Library



مې کړے دے چې په خپله شاعرۍ کښې خپل اولس ته د یو والي مینې امن، پښتونولۍ او د جبر خلاف دمزاحمت کولو پېغام ورسوؤم
اوس زما شاعري په دغه هځو کښې څومره بریا موندلي ده څومره کمې کوزې دې پکښې. دا فیصله به زۀ نۀ کوم بلکې دا حق خپلو قدرمنو لوستونکو ته پرېږدم. چې دهغوي په دې حقله څۀ رائے ده - ستاسو مینه، ستائینه او اصلاحي تنقید به زما د راتلونکي ادبي سفر لار نوره هم روښانه کړي.

په ډېره مینه

**محمد الیاس**

دمام سعودي عرب

۵ جون 2026

ketabton.com - The Digital Library



په زارۍ منت او سوال خو ربّه راکړه
څو جلوې د خپل جمال خو ربّه راکړه

خاکسارۍ کښې خلقو راکړو ډېر دردونه
دا ځل لږ شانې جلال خو ربّه راکړه

په محفل کښې سخنورو به ستائیلم
مرتبه څۀ د کمال خو ربّه راکړه

د بې ننګه پښتون سر به کدو جوړ کړم
ختبه سره که د کلال خو ربّه راکړه

د الیاسؔ د ژوند نقشه به شي بدله
مرتبه که د ابدال خو ربّه راکړه

ketabton.com - The Digital Library



قسم پرې درته خورمه په ایمان په ژړا کېږي
خفه شمه چې چرته مې یاران په ژړا کېږي

الله دې هغه ورځ زما په ژوند کښې نصیب نۀ کړي
زما پکښې د لاسه چې انسان په ژړا کېږي

هم دغه دې خواخوږي دي هم دغه دې ملګري
د تا سره چې سم دې په خفګان په ژړا کېږي

ښۀ نۀ ده چې د دغسې سلګو چلونه زدۀ کړې
ښۀ نۀ ده چې د تا سره اسمان په ژړا کېږي

ketabton.com - The Digital Library



تـا څـهٔ کـړي سـړيه دا خـو تـهٔ پـه شـړه سـر يـې
دا چا وې چې پـه مـرګ بـه دې جهـان پـه ژړا کېـږي

قسم دے زړهٔ مې چوي دبې وسی په داسې وخت کښې
يه ! خدايه چې غريب سړي ته خان په ژړا کېږي

**الياســــــــآ** خـهٔ پـه بـره بـره دغســې الوځـه
**الياســــــآ** پـه الـوت دې رقيبـان پـه ژړا کېـږي

ketabton.com - The Digital Library



د ورایه دي په ناز راته کتله تماشه وه
د زړۀ نه به مې څنګ اوځي څۀ بله تماشه وه

دا څوک مې اوسېدو په لاشعور کښې د مودو نه
زما په ذات کښې څومره بې بدله تماشه وه

زما د زړۀ نه یو الله خبر وۀ په والله چې
په تا چې به یرغل کېدو کابله تماشه وه

زما ساده زړګے ورته حېران ګوته په خُلۀ وۀ
ګلان چې دې په زلفو کښې ټومبله تماشه وه

ketabton.com - The Digital Library



دا خلق ددې خاورې ګډول چې پاړوګانو
دا چا له تماشه وه او دا څۀ له تماشه وه

تر اوسه ستا بل کړے اور مړ نۀ شو د جنګونو
تر اوسه مې په ښارکښې حمېد ګله تماشه وه

د مېنې لېونی دي انتظار په بام کولو
الیاسه چرته تلې وې پاګله تماشه وه

ketabton.com - The Digital Library



زړۀ تـه رانـزدې لکـه , جانـان بـه دې جـوړ کـړے وۀ
ژوند خو راتـه لـږ شانې , اسان بـه دې جوړ کـړے وۀ

داسـې پـه يـو دم بـه دې , ظالمـه انكـار نـه كـوۀ
لـږ شـانې خبـرو تـه , امكـان بـه دې جـوړ کـړے وۀ

يـــاره کـــه ارو مـــرو دې لارې بېلـــولې نـــو
يـاره نـو پـه څۀ باندې خفګـان بـه دې جـوړ کـړے وۀ

زور بـه دې پـه چغـوکښـې د لـر او بـر هلـه وۀ چې
شـکل خـو دې هـم لـږ د افغـان بـه دې جـوړ کـړے وۀ

څـو بـه مـزدورۍ، مسـافرۍ سـختې خـوارۍ کـوي
خدايـه د اليـاس نـه چرتـه خـان بـه دې جـوړ کـړے وۀ

دا دې څـۀ **الياســـــهٓ** د نـا پوهـوکانـه کـړې ده
خواتـه چې د ښکلـے تلې نوځان بـه دې جوړ کـړے وۀ

ketabton.com - The Digital Library



سپي راپسې غاپي څوک ملنګ راپسې شوے دے
خداې خبرچې څۀ له دے او څنګ راپسې شوے دے

ژوند په شرافت د مغل خېلو سره نۀ کېږي
توره به رااخلمه اورنګ راپسې شوے دے

سوچ راله پخپله د الوت لاره نیولې ده
فکر چې خمار لکه د بنګ راپسې شوے دے

خپل قد ئې د خلقو په نظر کښې غورځولے دے
ما پسې چې دغه سړے دنګ راپسې شوے دے

ژوند ته ظالمان مې په قلاره داسې نۀ پرېږدي
حسد د جهان لکه غورزنګ راپسې شوے دے

څنګه به **الیاسه** مونږ د امن چغې نۀ وهو
مونږ پسې د سېوري لکه جنګ راپسې شوے دے

ketabton.com - The Digital Library



دغــه کــار خــو پــه هـېـڅ رنـګ دې نـور ونـۀ شـي
د وطــن پــه خــاوره جنــګ دې نــور ونــۀ شـــي

اســـتعمال ئــې کـــه نشـــې د پـــاره کېـــږي
د ډوډې بـــوټــې او بنـــګ دې نــور ونــۀ شـــي

ننګيـــالي پکښـــې د ســـره لاړل تېـــر شـــو
پـــه بـــې ننګـــو بانـــدې ننـــګ دې نـــور ونـــۀ شـــي

چـــې حـــافظ پکښـــې محفـــوظ شـــي تـــر ابـــده
ترمېمونـــه پـــه دې رنـــګ دې نـــور ونـــۀ شـــي

چـې احســاس پکښــې د ســوز وي نــۀ د ســاز وي
د منګـــي د ربـــاب ټنـــګ نـــور ونـــۀ شـــې

د بنګــرو پــه شــانې شــور چــې پکښــې نــۀ وي
د الیـــاسؔ مخـي تـه شـرنګ دې نـور ونـۀ شـي

ketabton.com - The Digital Library



راويښ شه رابيدار شه هله پاڅه لوبه نۀ ده
اودۀ به ئې تر څو پورې احساسه لوبه نۀ ده

شطرنج ته مې په ناسته باندې کفر څۀ له وائي
د صبر درسګاه ده شېخه پاسه لوبه نۀ ده

سندره شه نغمه شه نور خاموشه پاتې نۀ شې
رااوځه د ګوګل نه د زړۀ براسه لوبه نۀ ده

دريښائم درته قدر د خپل ځان په داسې طرز
بوځمه به دې غاړې له مات لاسه لوبه نۀ ده

د ويښ ګوجر قيصه به درته څو پورې کوؤمه
په خوب باندې اودۀ سړيه ملاسه لوبه نۀ ده

په وينو د پښتون کوي دنده په رڼا ورځې
په ښارکښې جوړه شوې ده الياسه لوبه نۀ ده

ketabton.com - The Digital Library



شل مې نۀ کړه شل په مطلب پوهه شوم
ژونده خو د زغل په مطلب پوهه شوم

ده هم وې چې ما به ورته واه واه وې
واه واه د غزل په مطلب پوهه شوم

هرځاے وې خو بیا دې هم لټون کښې ووم
خدایه د تکل په مطلب پوهه شوم

ما هم ورته پټ په غلیب کښې وکاته
زۀ جوړ د بدل په مطلب پوهه شوم

ketabton.com - The Digital Library



زۀ چې دلاسه په خپل نصیب شومه
ښکاري د ازل په مطلب پوهه شوم

ښیرے چې د لاسو د لاس لاړلې
اوس د پردي خپل په مطلب پوهه شوم

وې ئې د الیاسؔ سره به نۀ کوؤم
وخته که د چل په مطلب پوهه شوم

ketabton.com - The Digital Library



لکه چپه که د غورځنګه تېر شوې
ساز به شې ساز خوکه د چنګه تېر شوې

چې د يو بل سره مو مينه وه نو
بيا غلے څنګه مې تر څنګه تېر شوې

شکر دے بله حادثه ونۀ شوه
بنۀ شوله څه د سترګو جنګه تېر شوې

خداے خبر څوک راپسې شوي دي چې
ژونده بې خونده او بد رنګه تېر شوې

ketabton.com - The Digital Library



شمع بـه بلـه وي خـو تـهٔ بـه نـهٔ ئـې
کـه د لمبـو نـه لـرې پتنګـه تېـر شـوې

خېـر د دیـدن بـه درلـه دروړمـه خـو
کـه پـه کوځـه، زمـا ملنګـه تېـر شـوې

د سـاقي خیـال وهٔ چـې مخمـوره دې یم
شکـر دے ځـه، د پیـالی کړنګـه تېـر شـوې

**الیاســـه**! هلـه شـوې خبـر د مینـې
چـې د حـالاتو د نهنګـه تېـر شـوې

ketabton.com - The Digital Library



تال سره ګډ راله آهنګ خو مې کړه
د مېخانې د پیالې کړنګ خو مې کړه

یاره چې ځان پکښې لږ اوتلمه
چرته د ځان سره په جنګ خو مې کړه

په ژوند مئین یمه د ژوند خالقه
لږ دې ژوند په رنګ کښې رنګ خو مې کړه

بس خو رڼا ته که پرې رسمه نو
لمبه لمبه خیر دې پتنګ خو مې کړه

چې حسد، بغض او کینه وي پکښې
له هغه ځایه نه په څنګ خو مې کړه

خیر زولنې دې وي، زنځیر دې وي خو
د شور لپاره چرته شړنګ خو مې کړه

ketabton.com - The Digital Library



قسم په خدای که مې پوښتنه وکړه
پښتنه خاوره يمه، رنګ خو مې کړه

دا چې غرور کوي په څۀ ئې کوي
قدکښې د هاغه خلقو دنګ خو مې کړه

د دې ساده خلوص به هم اووينې
**الياسؔ** د خپل مينې ملنګ خو مې کړه

## قطعه

د پښتون قام د پر مختګ په غرض والوتمه
بيا چرته مات راله پيوند پيوند ځانګونه نۀ کړې

څم د غفلت په خوب اوده خلقو ته چغې وهم
خدای نعرې را له د خوار مُلا با نګونه نه کړې

ketabton.com - The Digital Library



څۀ د ورځې څۀ د شپې راسره وشوې
خدایه ! څومره حادثې راسره وشوې

زما زړۀ خو وۀ توبې ته نرم شو
خدایه بل رنګه فتنې راسره وشوې

ژونده ستا د الیو مهرباني ده
په قدم قدم قیصې راسره وشوې

یو ارمان مې پکښې ګوره پوره نۀ شو
که غني شومه پیسې راسره وشوې

زۀ **الیاسؔ** ئې تصور کولے نۀ شم
څۀ نا شونې معاملې راسره وشوې

ketabton.com - The Digital Library



پښتونه تاواني شولې قلنګ اخلې او ځې
په سر باندې دا ولې پردے جنګ اخلې او ځې

تۀ کښېنه لږ ایسار شه چې خوږې خبرې وکړو
ازار مې د زړۀ وچ ناحقه ثنګ اخلې او ځې

پښتونه دا په کومه لاره سر شوې نۀ پوهېږم
د غېروکلتورونو نه چې رنګ اخلې او ځې

زور د قلم نۀ پېژنې توره دې راخیستې
کتاب دې شاته کړے دے تفنګ اخلې او ځې

**الیاسؔ** بې نیازه قلندر د محبت ئې
د ښکلو د ښکلا نه چې قلنګ اخلې او ځې

ketabton.com - The Digital Library



ما ته چې د خپله ځانه ګرانې وې
هاغه د یار سترګې قاتلانې وې

ستا د نه راتلو ورته چا وېلې وۀ
اوښکې چې د سترګو راروانې وې

زړۀ مې ئې له ځانه سره وړے دے
دومره زړۀ راښکونکي اداګانې وې

دلته کېښې که امن وے نو اومنئ
شاړې د وطن به مو ودانې وې

ketabton.com - The Digital Library



اوګوره د بل د پاره توې شولې
دومره پښتنې وينې ارزانې وې

دېخوا د اټک نه کربلا وه خو
هلته په لاهور کښې ګداګانې وې

يو خوا د **الياسؔ** زړګي ماتم کوو
بل خوا ته د خلقو خنداګانې وې

ketabton.com - The Digital Library



# ترانه

صبر وکړئ، زغم وکړئ، رڼا ترې ځانله جوړه کړئ
مېنه، ورورولي وکړئ، دنیا ترې ځانله جوړه کړئ

خیال تــه د پښــتون د ســیالۍ فکــر ور دننــه کــړئ
بېرتــه ئې بهــر نــهٔ کــړئ، انــا تــرې ځانلــه جــوړه کــړئ

اور د نفــرت مــړکــړئ چــې مــو خپلــه لمن نــهٔ ســوزي
یوځــاے شئ یوموټــے شئ فضا ترې ځانله جوړه کړئ

ســوچ د پښــتنو د پرمختــګ ذهــن تــه راولــئ
زړهٔ لـه مـو د ټـول عمـر سـودا تـرې ځانلـه جـوړه کـړئ

داسـې د غفلـت پـه خـوب اوده چـې پـاتې نـهٔ شئ نـور
زده کـړه د هنـر وکـړئ، بقـا تـرې ځانلـه جـوړه کـړئ

کلـه بـه، **الیاســه**، وي پـه خپلـه خاوره خپـل اختیـار
پــاڅئ انقــلاب لــره، نَــوا تــرې ځانلــه جــوړه کــړئ

ketabton.com - The Digital Library



جذبه په خپل وطن د خپل اختیار به راپاځي
باور مې دے یو ځل چرته دا ښار به راپاځي

د ظلم انتها به دومره ډېره شي چې بیا
سرکار پسې پخپله خپل سرکار به راپاځي

ظالم ته به کوي د حق خبرې په نېغو
د ژوند د هر اړخ نه یو کردار به راپاځي

خوبونه تښتوي به د بادارو د لېمو نه
په پښو کښې زنځیرونه په شرنګار به راپاځي

دا تهٔ چې ورته داسې د املوک نه سپینې وائې
په تا پسې **الیاسهٔ** خود اغیار به راپاځي

ketabton.com - The Digital Library



بندیوان به زۀ تر اوسه دارکښې نۀ وې
که تړلې دې د زلفو تارکښې نۀ وې

زړۀ پاګل مې بیا په څۀ باندې غوښتلې
څۀ خبرې مې په خپل اختیارکښې نه وې

څنګه ته پکښې رایاد نۀ شوې جانانه
ستا د حسن نخښې څنګ بهارکښې نۀ وې

چرته ما سره به حسد دې کولو
چې تر اوسه په سکون قرارکښې نۀ وې

ketabton.com - The Digital Library



تېندکونــــه بــــه دي خامخـــا خوړلـــه
ژونـدکښـې تـګ کـه دي پـه سـمه لارکښې نـۀ وي

ډک محفــل کښـــې اوازه پـــه غريـــب وشـــوه
تــه پــرون ولــې د خــان بيګــارکښــې نــۀ وي

پـــه هـــر ځـــل دې وي د ژبـــې تختېـــدلې
اعتبـــاري ځکـــه زمـــا اعتبـــارکښـــې نـــۀ وي

پـــه والله کـــه دلـــداري درســـره وکـــړم
کـــه زمـــا غونـــدې ســـاده کـــردارکښـــې نـــۀ وي

بادشــاهي دې مبــارک شــه **الیـــــاس** وائــي
بختـــور ئـــې کـــه د مـــور ازارکښـــې نـــۀ وي

ketabton.com - The Digital Library



ننګ پیدا کومه ځان کښې پت پیدا کؤمه
نامه به پښتون قام له د عظمت پیدا کؤمه

دا خلق په والله که په خوږه باندې پوهېږي
خبروکښې به خامخا شدت پیدا کؤمه

ټولنې نه به جهل ختمومه، دا مې واورئ
د علم په رڼا به زۀ جدت پیدا کؤمه

قلم به مې وسله وي د تیارو خلاف په جنګ کښې
فکرونو له مې نوې بصیرت پیدا کؤمه

ځوانانو ته لګیا یمه باور په ځان پیدا کړئ
بریا له ګام په ګام ورته جرات پیدا کؤمه

تعبیر مې د خوبونو خپل همت به ځان سره کړم
پخپله به **الیاسه** خپل قسمت پیدا کؤمه

**استنبول 26 اپریل 2026**

ketabton.com - The Digital Library



تر څو به قتل کېږي بې اسبابه پښتانهٔ
راویښ کړه راله راشه انقلابه پښتانهٔ

د خپلې مرتبې د پاره یه ! د خدایه ظالمه
دا ولې در په در دي کړه جنابه پښتانهٔ

بیا هم د سود او زیان نه ناخبره دې تر اوسه
بې وجې شهیدان شو بې حسابه پښتانهٔ

خدایه په قسمت کښې ولې نشته د خوارانو
په امن پسې ګرځي تل بې تابه پښتانهٔ

په هره لاره غم ورته ازغي دي په هر ګام
رسېږي به نو څنګه تر ګلابه پښتانهٔ

دنیا ته به وراوښائي جوهر د خپلې پوهې
بهر شوه که یو ځل د اضطرابه پښتانهٔ

ketabton.com - The Digital Library



سم زما د زړهٔ ځیګر قیصه چې کېږي
د کابل او پېښور قیصه چې کېږي

ما ته پته ده د خپلو پکښې لاس دے
باجوړکښې دا د شر قیصه چې کېږي

خپل سرکار او پښتانهٔ مخې ته راشي
د حسین او د شمر قیصه چې کېږي

رڼې اوښکې مې د سترګو نه بهیږي
د بابړې د ټکر قیصه چې کېږي

زړهٔ تر خنګ به د مظلوم سړي ودریږم
د کمزوري زورور قیصه چې کېږي

ketabton.com - The Digital Library



پښـــتنو لـــره تــرې هــم زده کــړه پکــار ده
چـــرته چـــرته د هُنـــر قيصـــه چـــې کيـــږي

ښـــــــترونو چـــــــيناړونو اور اخيســـــــتے
پښـتونخوا کښـې مـې د غـر قيصـه چـې کيـږي

بـې پيـــزاره پښـــې رايـادې د غــــريب شـــي
سـره غرمـه کښـې د سـور نمر قيصـه چـې کيـږي

جــوړ ذهنونــو تــه راغلـــے مــو شــعور دے
تــوره شـپه کښـې د سـحر قيصـه چـې کيـږي

زۀ **اليـــاسؔ** ســـم لـــيونے پســـې روان شـــم
د جـــانان او د دلـــبر قيصـــه چـــې کيـــږي
۱۳ اګست ۲۰۲۵ . دمام

ketabton.com - The Digital Library



تا پسې دلداره د دې څۀ مطلب
زړۀ سم بې قراره د دې څۀ مطلب

بیا مې په زړګي څوک ورېدلے دے
یه پرورګاره د دې څۀ مطلب

تا ته چې د زړۀ اظهار کوے نۀ شي
یه د زړۀ اظهاره د دې څۀ مطلب

زۀ درته په ډک محفل کښې اوګورم
نۀ ګورې نګاره د دې څۀ مطلب

ځان سره پېغام د اشنا نۀ راوړې
راشې خو رېباره د دې څۀ مطلب

مونږ درباندې هسې ملا تړلې وه
خرڅ شولې سالاره د دې څۀ مطلب

یو ځاے د دشمن په صف کښې ودرېدې
یه مشره زرداره د دې څۀ مطلب

ketabton.com - The Digital Library



ماسره که ځنگ کښېږې ودرېدے نۀ شې
ښۀ نو پرېواره د دې ځۀ مطلب

تۀ که منتظر شوې بيا به اووائې
سترې انتظاره د دې ځۀ مطلب

څُلۀ باندې څاربړې خو کردار کښې دې
غم راکړې بې شماره د دې ځۀ مطلب

خپلې د تقوې چرچې دې وکړلې
څنگه گناهنگاره د دې ځۀ مطلب

ستا چې دا کردار او گفتار يو نۀ دې
ياره ايمانداره د دې ځۀ مطلب

**الياسؔ** تۀ چې حق وئيلے نۀ شې
مړه قلمکاره د دې ځۀ مطلب

بوکارېسټ، رومانيه 24 اپرېل 2026

ketabton.com - The Digital Library



مسافری له چې د کوره وتم
ذرې ذرې وومه بې سوره وتم

په کوم دلیل به مې رښا ګڼله
ستا د مکتب نه چې شمکوره وتم

مور به مې وې چرته ناوخته نۀ کړې
په ماښامي چې به د کوره وتم

خود چې سېزلو مې دستور د ظلم
خود به لمبه لمبه د اوره وتم

ketabton.com - The Digital Library



ماته سکون د کلي غېږې بخښو
ځکه د ښار ځکه د شوره وتم

هر يو ارمان پکښې شهيد شو زما
چې ستا د خلې ستا د پېغوره وتم

الياسه ژوند مې په ناکام کولو
زه به هر ځل د زړه د زوره وتم

## قطعه

ناپوهه مريدانو چې د پير د مخې اوکړه
زما نه د فريب دغه مسکا کله کېده

ما پټ به ژړغونې احتجاج په زړه کښې اوکړو
زما د قام په سر چې به سودا کله کېده

ketabton.com - The Digital Library



وژلــو تــه زمــونږه لــور پــه لــور ســرې ولاړ دے
د هــر يــو ســره اوګــورئ دکــور ســرې ولاړ دے

وس بــه مــو منــزل تــه قــافلې چــې خدايــه ښنــګ رسـي
رهبــر راتــه پــه لاره کښــې شــمکور ســرې ولاړ دے

اووايــه چــې زۀ بــه تــرې نــه ښــومره ښــۀ ازده کــړم
چــې ماتــه پــه مکتــب کښــې کــرې کــور ســرې ولاړ دے

مُــلا پــرې د کــافر فتــوه پــه دغــه وجــه ورکــړه
مانځــه تــه پــه جومــات ولــې ســرتور ســرې ولاړ دے

مــنم چــې هلتــه هــم مســافرې لکــه د اور ده
خودلتــه هــم پــه کلــې کښــې پــه اور ســرې ولاړ دے

**الياســـؔ** مونږ پـه ژوند کښې چرتـه نۀ شو سپينېدلے
دا مـونږ تـه چې پـه هـر ځـاے کښـې يـو تورسـرے ولاړ دے

ښائسـت ئـې څـهٔ شـولو پـه هغـه ادا څـهٔ شـوي دي
(پرهـر پرهـر ده پـه معصـومه ښـکلا څـهٔ شـوي دي)

د پښـتنو پـه بـې ګنـاه مرګـي ئـې کريکـي نـهٔ کـړې
پـه زړهٔ دننـه مـې د زړهٔ پـه درزا څـهٔ شـوي دي

خپلـې سـيالی کښـی هـم ډاډه ډاډه راتللـے نـهٔ شـي
د تـرارو شـونډو پـه بـې وسـه خندا څـهٔ شـوي دي

پښـتون احسـاس لـه پـه تيـارو کښـې رهبـري نـهٔ کـوي
سـپوږمی تـه اوګـورئ د نمـر پـه رڼـا څـهٔ شـوي دي

ژونـده بېخـي درنـه خوندونـه پـه والله تلـي دي
ژونـده چـې دا دې پـه بيګـاه او سـبا څـهٔ شـوي دي

سـتا استحصـال کېـږي او تـهٔ د ځانـه نـهٔ ئـې خبـر
الياســـهٓ ويـخ شـه ليونيـه پـه تـا څـهٔ شـوي دي

د ال پاکستان پښتون تهنکر فورم جاوېد احساس صيب په خوره شوي طرحه "پرهر پرهر ده په معصومه ښکلا څهٔ شوي دي" باندې ليکلې شوے غزل

ketabton.com - The Digital Library



په هر راتلونکي سباني ژړېده
زما خوبونه ننني ژړېده

پښتون وطن چې نړېدلو زما
په اوښکو وینو مې ځواني ژړېده

ما به نو څنګه ویاړ په ځان نۀ کوؤ
چې ملنګۍ ته مې خاني ژړېده

هر چا ته پته ده دنیا فاني ده
پسې ناپوهه ليوني ژړېده

ketabton.com - The Digital Library



خدایــه هغــه مېنــه مــې ونــۀ لیــده
چــې پــه خفګــان بــه د فلانــي ژړېــده

پــه خــوار وطــن بانــدې خــؤرو تیــارو تــه
ســـره ســـره رنګونـــه الـــواني ژړېـــده

**الیاســـــــــــه** هاغــه د لیــدلو وخــت وۀ
پــه غریبــی چــې دي ګرانــي ژړېــده

## قطعه

تــۀ پــه مېخانــه کښــې لټــولې مــې
هلتـــه د الله خبـــرې نـــۀ کېـــدې

ځــان ســره د ځــان پــه ســر لګیــا شــومه
ســتا ســره چــې ســتا خبــرې نــۀ کېــدې

ketabton.com - The Digital Library



ښۀ به وي چې بيا خبرې نۀ کؤم
ښکليه که ستا خبرې نۀ کؤم

چا مې اورېدو ته غوږ نېولې دے
هسې وارخطا خبرې نۀ کؤم

تا ته مې خپل زړۀ او ځان وئيلے دے
نور به د بل چا خبرې نۀ کؤم

تۀ چې پرې زما نه خفه کېږې نو
هيڅ کله به دا خبرې نۀ کؤم

څوک راسره بيا په ښکلا کښې ودرېده
بيا به ښکلا خطا خبرې نۀ کؤم

ketabton.com - The Digital Library



کــار د ننــه نــی ورځــي هــم نــن کــوؤم
چرتـــه د سبـــا خبـــرې نـــه کـــوؤم

تــۀ هــم پــه رښـا ماښــامې مــۀ ځــۀ نــو
زۀ بـــه د بېـــګا خبـــرې نـــۀ کـــوؤم

ځکــه چــې اشــنا راســره ښنــګ کښــې دے
زۀ کـــه د اشنـــا خبـــرې نـــۀ کـــوؤم

خلــق خــو الیـــــاسؔ خوښــوي دروغ
نـــورې بـــه ریښتـــیا خبـــرې نـــۀ کـــوؤم

## قطعه

دا زړۀ مــې هــم قســم دے اوس پــه خپــل اختیارکښــې نــۀ دے
مــا تــا ســره اشــنا د ســترګو جنــګ کښــې هــر څــۀ بائیلــۀ

دا خلــق بــې پښــتو ورتــه پــه کومــه خولــه بــه وائــي
الیـــاسؔ د پښـــتنو د پـــاره ننــګ کښــې هــر څــۀ بائیلــۀ

ketabton.com - The Digital Library



رنګ به شي خوشبو به شي بهار ته که دې اوکاتهٔ
ما غوندې په مینه کښې سرشار ته که دې اوکاتهٔ

ته به هم د ژوند د رڼا ګانو لارې اوۀینې
ګرانه خو زما غوندې فنکار ته که دې اوکاتهٔ

تا ته به د ځان د ورکېدو چلونه اوښائي
چرته آئینه کښې خپل سینګار ته که دې اوکاتهٔ

بیا به د انصاف ټکے د خپل لغت نه اوباسي
دلته د قاضي سړي کردار ته که دې اوکاتهٔ

ژوند به دې پخپله مالا مال د استغنا نه شي
ما رنګې د هرڅۀ نه بې زار ته که دې اوکاتهٔ

ketabton.com - The Digital Library



تـا تــه بــه هــم ســتا بچــې پــه ښــهٔ نــظرکاتــهٔ کــوي
ژونـد کـښـې بـس قـدم پـه قـدم پـلار تـه کـه دې اوکاتـهٔ

بیـا بـه د حـلاج پـه شـانې امـر پـه تـاریخ کښـې شـې
کلــه هــم د حــق پــه نامــه دار تــه کــه دې اوکــاتهٔ

زړهٔ بــه دې راډک شــې بغــاوت تــه د الیــاس پــه شــان
جبــر پــه غریــب د یــو زردار تــه کــه دې اوکاتــهٔ

ستــا بــه هــم ســاقي پیــالې د لاســو نــه راپریــوځي
یـو ځـل د الیـــاسؔ د سُـر خمـار تـه کـه دې اوکاتـهٔ

ketabton.com - The Digital Library



دا خو به بهار ته ائینه نېسم
څنګه به مې یار ته ائینه نېسم

ځمه د ساقي سترګو ته ګورمه
دا ځلي خمار ته ائینه نېسم

نن ئې د رنګونو سنجونه کوم
نن ئې لړ نکهار ته ائینه نېسم

پر پړده چې سپرلي ورته حېرانه شي
زۀ ورله سینګار ته ائینه نېسم

خود به نو په کاڼو باندې لګمه
چاله چې کردار ته ائینه نېسم

ketabton.com - The Digital Library



ما خو ځکه ژوند ته پکښې نۀ پرېږدي
ځار شمه چې ښار ته ائينه نېسم

ښکارې د تيارو نه ناخبر يمه
شپه کښې چې هم لار ته ائينه نيسم

سر مې پکښې مات ځکه الياسؔ دے
زۀ خپله سرکار ته ائينه نيسم
۲۸ اکتوبر ۲۰۲۳ دمام

## قطعه

دلته چې څوک امن له نعرے وهي
دلته بيا د هاغه سړي ژوند نۀ وي

دلته چې خبره څوک د حق کوي
څنګه به الياسؔ فکرمند نۀ وي

ketabton.com - The Digital Library



بیا به دنیا ټوله په ماتم کښې وے
زۀ که ژړېدلے په حرم کښې وے

لږ به مې د حاله خبر شوے وے
لږ مې دېره شوې که په چم کښې وے

زۀ ئې د فطرت په ننداره کړمه
داسې اداګانې په موسم کښې وے

تا راته په غلېب کښې به هم نۀ کاتۀ
تۀ د ښائستونو په پرتم کښې وے

سترګې که **الیاسه** دې لېدلے وے
تۀ به نشه شوے په یو دم کښې وے

ketabton.com - The Digital Library



د دوي دا بــدې خــوارې ورځــې د زوال مــې وژنــي
پښــتون بــه کلــه راوېښــيږي دغــه خيــال مــې وژنــي

زمــونږه مېــنځ تــه ئــې نفــرت د عقيــدو راوړے
ظــالم تــه ګــوره کنــه څــومره پــه کمــال مــې وژنــي

مــا وې ليــدلي مــې ده شــکر دې اختــر بــه کــووم
مــلا ئــې نــه منــي ملګــرو پــه هــلال مــې وژنــي

څـئ چـې جرګـه لاړ شـو د مـرګ د فرشـتې کلـي تـه
"ګنــي اجــل راپســې ګرځــي پــه هــر حــال مــې وژنــي"

خدايــه اليــــاسؔ ئــې بــې حســابه بــې کتابــه غــواړي
ګنــې جنــت پســې د دغــې دنيــا پــال مــې وژنــي

د ال پاکستان پښتون تهنکر فورم جاويداحساس صيب په خوره شوي طرحه "ګنې اجل راپسې ګرځي په هر حال مې وژني" باندې

ketabton.com - The Digital Library



چغې د وحدت د یو رحمان وهم
منډې په دنیا کښې د ایمان وهم

بیا مې د مجنون قیصې تازه کړلې
بیا نعرې لیلیٰ ته هغه شان وهم

سپورے مې په کاڼو ځکه ولې چې
زهٔ ورله په تبر لوئې بتان وهم

دا ځل مې غربت ته خوداري زده کوم
څو پورې به ورونه زهٔ د خان وهم

نور به پرې ځان نهٔ چیچمه اومنه
دا ځل په لستوڼي کښې ماران وهم

ketabton.com - The Digital Library



خــدا ے بــه ئــې مغــروره ســر راپرېباســي
زۀ ورلـــه د زمکـــي نـــه اســـمان وهـــم

دا ځلـــې شـــمر لـــه ماتوۀمـــه ځُلـــۀ
زۀ د کـــوفې نـــه ېمـــه چـــې ځـــان وهـــم

ځینـــې بهـــره منـــد پـــه نصـــیحت مـــې شـــوه
ځینـــې پـــه کوتـــک بـــه لکـــه خـــران وهـــم

رب تـــه مـــې پنځـــه وختـــه ســـجدې کـــووم
ځـــومره پـــه ښـــکاره پېښـــې د شـــېطان وهـــم

خـــوي دې ایـــرانـے راتـــه ښـــکاره شـــولو
وې دې پـــه حوثیـــانو بـــه جیـــزان وهـــم

خیـــال ئـــي کـــه ســـاتلے د پتـــي نـــۀ شـــو
بیـــا خـــو بـــه **الیاســـــــۀ** نـــو دهقـــان وهـــم

ketabton.com - The Digital Library



که زړۀ مې هسې پرېشان شوے وي نو
په ما به سپورے دګران شوے وي نو

دا چې د جونو تګ راتګ دے پکښې
ښار به په امن امان شوے وي نو

زۀ د شدت هډو ملګرے نۀ یم
په ما به هسې ګمان شوے وي نو

زۀ چې د خپل اولس په غم ژړېږم
دا به مې متوکښې توان شوے وي نو

زما په سترګوکښې ئې ځان ته کتل
هغه به ځکه حېران شوے وي نو

ketabton.com - The Digital Library



واپس مې رانغې نظر ستركو ته
چرته په تا به قربان شوې وي نو*

څۀ خو به وي هسې ئې نۀ يادوؤم
څوك به مې بيا چرته ځان شوې وي نو

مئينـدي بچو ته په ښېرو سر دي
خدايه مرګې به اسان شوې وي نو

عقل چې مونږه پښتنو له راځي
پګښې مو ډېر به تاوان شوې وي نو

دا چې زمونږ په خاوره جنګ شروع دے
دي له به ښكاري ازان شوې وي نو

ketabton.com - The Digital Library



لاس ئـــې زمـــا دګرېوانـــه ويســـتي دي
ظـــالم بـــه چرتـــه پـــه ځـــان شـــوے وي نـــو

تـــه چـــې راځـــې زمـــا پوښـــتنه کـــوې
زمـــا د مـــرګ بـــه اعـــلان شـــوے وي نـــو

**الياســـــــهٓ** هـــر څـــوک دې پـــه ښـــۀ يـــادوي
خـــدا ے بـــه پـــه تـــا مهربـــان شـــوے وي نـــو

تحرير سکوائر قاهره مصر ۲۹ فروري ۲۰۲۴

ketabton.com - The Digital Library



په دشتو پره شوے یم لېواله پسې ګرځم
مینې ته مې اوګورئ بې خیاله پسې ګرځم

محبت به خلقو هسې ویئل اسان دے
حال مې دا شو اوس بې حاله پسې ګرځم

د صفاتو د ښکلا نه ئې لوګے شم
په لټون د لازواله پسې ګرځم

لېونتوب نهٔ دے بې لوثه محبت دے
چې بې ماله بې مناله پسې ګرځم

چرته رابه شي **الیاسؔ** راله په ګوتو
لیونی یمه سمباله پسې ګرځم

ketabton.com - The Digital Library



حېران مۀ شه که څاروي غوندي حلال شوې
قصابان مو حاکمان شو په وطن کښې

هر څۀ اوګوره د اور په بيعه شوي
اوسېده جوړي اوس ګران شو په وطن کښې

چا زما په رنګ وړوکې سر ټيټ نه کړو
څوک د هر هر چا بنديان شو په وطن کښې

د پښتو پښتو په چغو مې سر خلاص کړو
لوي واړه راته حېران شو په وطن کښې

چا څادر دې د انا په سر ايښودے
څوک واړه واړه خدايان شو په وطن کښې

دلته خامخا به شوکي ډاکې کېږي
با اختياره رذيلان شو په وطن کښې

ketabton.com - The Digital Library



چـا د بـل پــه ککـرۍ کښــې وينــې وڅکــې
څـوک د مينــې قــدردان شــو پــه وطــن کښــې

دلتــه څنګــه بــه د امــن قيصــې نــه کــړم
دلتــه خپـل مـې قــاتلان شـو پـه وطـن کښــې

چــې تصـوير د پښــتنو مــې خيــال تــه راشــي
در پــه در خدايــه پــه ځــان شــو پــه وطـن کښــې

د خپــل حــق د پــاره غــږ نــهٔ شــي کــولے
څـه بـې خونـده مـې ځوانـان شـو پـه وطـن کښـې

څــــو غټـــانو دے پــــه هـــر اړخ لــــوټلے
هـر څـهٔ مـا بانـدې تـاوان شـو پـه وطـن کښــې

څـــو ســـرې دي پــــه ســــجدو د مفـــاداتو
څـو سـرې دلتـه بتـان شــو پـه وطـن کښــې

ketabton.com - The Digital Library



خوشحالي به مې په خاوره زرغونېږي
غږ د امن مې باران شو په وطن کښې

چې د خپل اختيار سندري به ئې وئيلې
هاغه خلق بنديوان شو په وطن کښې

د خپل خوار اولس سندرې الیاسؔ وائي
جوړ ئې ځکه مريدان شو په وطن کښې

## قطعه

داسې ئې زۀ هم په خيالونو کښې يم
مشغوله څنګ چې آئينې سره ده

ستا په سر دغه حد ته ورسېدم
ورانه مې اوس د زمانې سره ده

ketabton.com - The Digital Library



پردو پسې روان دي دوي دا څنګه رنګ اخیستے
پښتون زما په خاوره څۀ بد رنګه رنګ اخیستے

څۀ ډېرو پسې لاړل څۀ د غېرو پسې لاړل
څۀ امن باندې مړه دي چا د جنګه رنګ اخیستے

دوۀ ژبو سره تګ مې دے د ژوند په سخته لاره
قدم مې په هر ځاے کښې د ګړنګه رنګ اخیستے

قدرت ورله سبب دے د کېمیا نه ګرځولے
مالګه کښې که اوسپني د زنګه رنګ اخیستے

الیاسؔ زاړه فکرونه د خپل نوي خیاله غواړي
فنکار زړۀ ئې څۀ بل شان د فرهنګه رنګ اخیستے

ketabton.com - The Digital Library



ګورم ورته بيا هم زۀ ژوندے يمه
دې ته کرامات د نظر وايمه

دا چې پښتونخوا ئې لوټې لوټې کړه
زۀ ورته يزيد او شمر وايمه

نۀ ګورې نو وائې اداګانې دي
زۀ ورته غرور او جبر وايمه

څوک ئې تورو زلفو ته تيارې وائې
زۀ ئې موسېدو ته سحر وايمه

ژبه راله خدائے خپله راکړې ده
څنګه به سپوږمۍ ته قمر وايمه

څنګه به الیاسؔ په ما مئين نۀ وي
زۀ ورته زړګے او ځيګر وايمه

ketabton.com - The Digital Library



پـه تاسـو بانـدې چـا کـړې ستـم خبـرې اوکـړئ
راپاڅـئ لــږ پــه دغــې بانــدې هــم خبــرې اوکــړئ

قسمت تـه هـر څـۀ مـۀ پرېږدئ پخپلـه هـم څـۀ وکـړئ
پـه سـتنونزو د خـپل کـورکلـي او چـم خبـرې اوکـړئ

تـر څـو پـورې بـه ژونـد وي زمـونږ داسـې پـه تيـاروکـښې
د خـدا ے د پــاره لــږ پــه دې تـورتــم خبــرې اوکــړئ

پښـتون ولـې بدحالـه دے پـه ښـکلې پښـتونخوا کښـې
نــو مــا ســره زمــا پــه دغــه غــم خبــرې اوکــړئ

د وروروسـره ملګـرو وروروليـې کـه پـري جـوړيـږي
نـو خبـر دې کـه پـه داسـې وخـت د زغـم خبـرې اوکـړئ

**الیــــاسؔ** سـره د نـن پـه ترقـۍ بحثونـه مـۀ کـړئ
**الیــــاسؔ** سـره د نـن پـه بنيـادم خبـرې اوکـړئ

۱۹ جون ۲۰۲۴ ـ دمام

ketabton.com - The Digital Library



ما د سپرلي وطن زخمي ګلزار ته نۀ شو کتے
چا د نظره کړو چې ما دلدار ته نۀ شو کتے

د ان الحق چغې مې ټیک ده چې وهلې وې خو
سر غوڅېدو کښې د خپل سر مې دار ته نۀ شو کتے

ظالم زما کور ته پردي جنګونه څکه راوړل
زمونږ په خاوره ئې نختر چینار ته نۀ شو کتے

دا څوک چې مونږ ته دي د امن واعظان جوړ شوي
هغوي په خپلو کښې هم خپل کردار ته نۀ شو کتے

ما به لا څنګه د دنیا مخکښې کتله درته
آئینې هم دې د نظر سینګار ته نۀ شو کتے

رقیب مې څۀ رنګې د یار څنګ کښې زغملے شولو
د ګل په خوا کښې مې ریښتیا چې خار ته نۀ شو کتے

ketabton.com - The Digital Library



الله دې نـۀ کـړي چـې ئـې ماتـه یـا زۀ اوکـړم چـا تـه
پـه تصـور کښې بـه مـې هـم ازار تـه نـۀ شـوکـتـے

زمـا د برخـې جـام ئـې هـم پـه نـورو اوو یشـلو
سـاقي زمـا د سـترګو مست خمـار تـه نـۀ شـوکـتـے

مـا پښـتانۀ اقـدار پخپلـه چقـول اوکنـه
د پـلار پـه ژرنـده کښې مـې خدائیګو وار تـه نـۀ شـوکـتـے

سـر ئـې پـه زمکـه وۀ ایښـودے د جانـان پـه نامـه
نـادان زړګـي مـې د کعبـې مېنـار تـه نـۀ شـوکـتـے

پـه هـر غـزل کښې ئـې جـدا جـدا خبـرې راوړې
**الیـاسؔ** پـه خیال کښې خپل لفظي تکرار تـه نـۀ شـوکـتـے

۲۲ جون ۲۰۲۴ ـ دمام

ketabton.com - The Digital Library



په ما به کله داسې زېرې د سحره وشي
چې د سيالۍ سره دې ذکر پېښوره وشي

ځان به همدوش د خليل وګڼمه يه خالقه
د مېلمستيا اواز په ما که ستا له دره وشي

زمونږ د يو بل سره اووايه په څۀ ورانه ده
څومره به ښۀ وي که په دغې هم خبره وشي

د پښتنو په خاوره بس دا قتل عام پرېږدوئ
ګڼې ازار درته زما به د ځيګره وشي

د محبت نغمې به هر ځاے کښې خورې شي هله
د غره په سر کښې که ټپې پاس د کمره وشي

ketabton.com - The Digital Library



کــه د دنيــا پــه خزانــو کېښــې برخــه نــۀ لرمــه
برخـــه زمـــا دې د کچکـــول د قلنـــدره وشـــي

امــن بــه راشي سـل پـه سلـه پـه دې وران وطـن کېښـې
کــه د اليـــــاسؔ د زړۀ خبـرې لــه ممـبره وشـي

۰۲ ستمبر ۲۰۲۴. دمام

## قطعه

تــا مـــې قتـــل عـــام د ارمانـــونو هـــر ځـــاے کـړے دے
هســـې بــه پـــه شـــونډو خنـــدا ګانې زمـــا ځـي راځــي

ښـکاري د پښـتو غــزل بــه بېرتــه وس جــو بن کېښـې شـي
زړۀ تـــه چـې جذبــې دغســې ځــوانې زمــا ځــي راځـــي

ketabton.com - The Digital Library



څنګه رانه هېره شوله څنګ د مازيګر قيصه
ډکه وه د مېنې نه د کلي د ګودر قيصه

اوس مې هم نظر ته د ښکلا عکسونه ځي راځي
يو ځلې دې کړي وه نظر ته د نظر قيصه

خلقو ته لګيا يمه چې خپل حقونه اوغواړئ
ځانله مې اخيستي ده په زور باندې د شر قيصه

ما پسې هم هاغه خلق پاڅېده ملنډې له
چا ته چې کوله مې د زړه کړې د هنر قيصه

وائې چې که امن شي سيالۍ او رڼاګانې شي
شپې ته دې راخستي ده **الياسه** د سحر قيصه

ketabton.com - The Digital Library



ما پسې خفه لېونی نۀ راځي
خوا ته مې په ثۀ لېونی نۀ راځي

ټوله ورځ مې کار د دنیا ستړې کړي
خوب راشي خو شپه لېونی نۀ راځي

ما پسې اوتره سرګردانه ده
ثنګ به مې په خُلۀ لېونی نۀ راځي

خدا ے خبر چې ثۀ رابانديې شوي دي
زړۀ ته مې بې زړۀ لېونی نۀ راځي

خاوره دې بې امنه ده **الیاسهٓ** نو
ثنګ په تا غوټه لیونی نۀ راځي

ketabton.com - The Digital Library



د یو بې خود زړګي خود داره مېنه
په دې خودۍ مسته سرشاره مېنه

بغیر له تا بل ته سجدې نۀ کوي
زما معصومه ایمانداره مېنه

چې دے پرې نوس بدنصیبه موړ کړي
ملا له ګوره مصالحداره مېنه

دۀ له پسته ثربه غوښنه
ماله د یار وره ناتاره مېنه

دۀ تۀ پردے خیرات اختر ښکلاري
ماته د یار هغه خاکساره مېنه

دۀ له خیالونه تش د هاغه جهان
ماله رنګینه نوبهاره مېنه

ketabton.com - The Digital Library



ژوند ذلالت قيصې دې داسې نهٔ شي
د ګران ملت قيصې دې داسې نهٔ شي

چې زهٔ ئې غواړم تهٔ ئې نهٔ راکوې
د سوال منت قيصې دې داسې نهٔ شي

لکه ماشوم ته په کچه شي تختې
د صحافت قيصې دې داسې نهٔ شي

چې د قاضي هم ژبه خپله نه وي
د عدالت قيصې دې داسې نهٔ شي

چې په هر ځاے کښې استحصال دې کېږي
د شرافت قيصې دې داسې نهٔ شي

چې هره ورځ پکښې تکرار شي ظلم
د مذمت قيصې دې داسې نهٔ شي

ketabton.com - The Digital Library



خدایه مه کړه چرته ابدالي شي رسوا
د پاني پت قيصې دې داسې نه شي

چې دې نسلونو ته مېراث ورسي
د شر شدت قيصې دې داسې نه شي

پکښې خبرې چې سورو ته رسي
د رقابت قيصې دې داسې نه شي

چې پکښې داؤ شي وطنونه سره
د بغاوت قيصې دې داسې نه شي

يو بل چې وژنو په ورو خبرو
د عداوت قيصې دې داسې نه شي

چې يادولې شلتالو شي پکښې
د محبت قيصې دې داسې نه شي

د قام په ښه چې نه راځي **الياسه**
د سياست قيصې دې داسې نه شي

17 اکتوبر 2024 ـ دمام ـ

ketabton.com - The Digital Library



دا راته ښکارېږي څهٔ ګڼکې شانې او غل سړے
ځئ چې ځان له ونېسو کارونو له يو بل سړے

اوس هم کله کله څهٔ ناغوړنده شانې اووائې
مونږ په يويشتمه صدۍ هم نهٔ کړو بدل سړے

دې سړي اخستې ده دنيا د اخرت په ځاے
ځکه د جمات نه پټوي پردي چپل سړے

ټول انسانيت وژل د يو انسان وژنه ده
دا هم په ټول ژوند کښې خو دې اوائي يو ځل سړے

ده هم په شعرونو کښې خپل ډېر ډېر څهٔ وئيلې دي
خېر دې که الياسؔ ته خلق وائي د غزل سړے

په ننداره خېر دے د ځان مې دې کړي
خپل ښائستونو ته حېران مې دې کړي

د استحصال نه ئې تنګ شوے يمه
خداے خو د خان دپاسه خان مې دې کړي

چا پښتنو له چې شعور غوښتلو
فکر د هاغه باچا خان مې دې کړي

ويم چې د يو بل نه مو ځار کړي په ژوند
ويم چې د خپل اولس جانان مې دې کړي

ګېلې خو تل خلق د خپلو کوي
ګېلې دې نۀ کوي پرېشان مې دې کړي

ketabton.com - The Digital Library



چې سخن فهمو ورته مار وي پخوا
د هغه زلفو بندیوان مې دې کړي

بېرته ځواني چې د غزل راولم
بېرته زلمي بېرته کښې ځوان مې دې کړي

د ظالمانو خس د سترګو دې شم
د مظلومانو ترجمان مې دې کړي

دا ما الیاسؔ دې سپېلنې کړي یاره
تاته لوګې تاته قربان مې دې کړي

ketabton.com - The Digital Library



بیا دې تاوده تاوده یادونه راغله
بیا مې د سترګو نه رودونه راغله

ستا د ښائست غوټۍ ګل شوې نۀ وې
چې د سپېرۀ خزان بادونه راغله

وړومبي نظر دې زلزلې جوړې کړې
خو په دوئم دې قیامتونه راغله

د خپل تپوس جواب مې اومونده لو
ستا په تندي کښې چې کوتونه راغله

وخت چې نږدې شو د لیدو **الیاسه**!
ګوره نوسترګو ته خوبونه راغله

ketabton.com - The Digital Library



مصور غوندي لحظه کښې تصویر جوړکړم
تا ته ګورمه په څۀ کښې تصویر جوړکړم

سیاسي شمه د ربړ بوټ په پښو کړم
بیا فېس بک له په جبه کښې تصویر جوړکړم

ستا نظر کښې دروغژن یمه دا ځکه
ستا تصوېر له په کعبه کښې تصویر جوړکړم

مسافر یم پشکال به راته یاد کړي
د باران تېزه شېبه کښې تصویر جوړکړم

الیاسؔ وائي په توبو مې دې توبه وي
ګناهګار یم په توبه کښې تصویر جوړکړم

۱۹ جنوري ۲۰۲۵ وخت ۰۹۱۸ ( دمام پورټ)

ketabton.com - The Digital Library



# راځئ

کرشـــمې بـــه کلـــه کېـــږي
پـــه والله کـــه تـــرې خبـــر يـــو
دروازې ځـــان تـــه پـــه خپلـــه
د قســـمت راځـــئ چـــې لـــرکـــړو

پـــــــه وړو وړو خبـــــــــرو
د يـــــو بـــــل ســــره جنګونـــــه
دغــــه کرکــــه دا کنځلــــــې
شــر شــدت راځــئ چــې لــرکــړو

پرمختــګ تــه کــه مــو نيــت وي
هنرونـــه پـــه ژونـــد زده کـــړئ
د روزګـــــار د پـــــاره لارې
تجــارت راځــئ چــې لــرکــړو

پښـــتنوکـــه تاســـو غـــواړئ
چـــې لـــوګـے شـــئ د يـــو بلـــه
دکينـــې ټکـــے د زړهٔ نـــه
ســلامت راځــئ چــې لــرکــړو

ketabton.com - The Digital Library



مقدس دے پـه عهـده کښـې
دے بـه نـهٔ رټـو ملګـرو
بيـا مـو بـر ناحقـه وژنـې
دا دهشـت راځـئ چـې لـرکړو

چـې لـږ امـن او رڼـا شـي
د پښـتون وطـن پـه خـاوره
دروازې دغـه سـينګار لـه
د حکمـت راځـئ چـې لـرکړو

د رسـول نـاموس بهانـه کـړي
بـې ګنـاه پـرې خلـق وژنـې
دا بـې عقلـه شـان کارونـه
دا بـدعت راځـئ چـې لـرکړو

کـه غلـط وي نـو بـدل کـړئ
زور امـام او تـراويح مـو
پـه ذهنونـو خـوره ويـره
د جـدت راځـئ چـې لـرکړو

ketabton.com - The Digital Library



که پــه ســوک څپیــړه کېــږي
مــــخ نیــــوے د دشـــــمنانو
بیــــا د ځانــــه یــــه ملګـــــرو
شــرافت راځـــئ چـــې لـــرکـــړو

ځـئ چـې یـو شـو دغـه سـوچ لـه
پښــــتانهٔ ولـــــې قتلیـــــږي
د خیبـر پـه لـوئې مېـدان کښـې
عـــداوت راځـــئ چـــې لــرکــړو

صـــرف زهٔ ولـــې مظلـــوم یم
ځـئ چـې دا تپـوس تـري وکـړو
د ظـــالم خـــلاف پـــه نـــره
عـــدالت راځـــئ چـــې لـــرکـــړو

**الیــــاسؔ** ولـې دومـره ښـهٔ دے
دے بـــــه کلـــــه خرابیـــــږي
پـټ پـه زړهٔ کښـې د یـو بـل نـه
دا نفـــرت راځـــئ چـــې لـــرکـــړو

ketabton.com - The Digital Library



د خپلـــو مسلکـــونو خپـــل پېشـــوا لـــه دليـــل ګـــوري
پـــه شـــړه بانـــدې ســـر دي خلـــق چـــا لـــه دلـــيل ګـــوري

پـــه پـــړه پـــورې نښـــتي دي بـــې لارې پښـــتانـــهٔ دي
پـــه ضـــد کښـــې راګـــډ شـــوي دي انـــا لـــه دليـــل ګـــوري

دا نـــهٔ دے ښـــهٔ دے زوږ شـــولواوس نـــوے بـــل پکـــار دے
دا بـــل ســـړے باچـــا ښـــهٔ دے باچـــا لـــه دليـــل ګـــوري

پـــوهېږې چـــې پـــوهېږې نـــهٔ د ســـره دے ناپوهـــه
خـــو بيـــا هـــم ورپســـې وي خپـــل کاکـــا لـــه دليـــل ګـــوري

دا ټيـــک ده چـــې **اليـــاسؔ** بـــه وي پـــه عقـــل کښـــې کمـــزورے
خـــو ګـــوره ئـــې شعـــرونه تـــه هـــر چـــا لـــه دليـــل ګـــوري

د اختر دريمه ورځ. دمام پورټ
۲ اپريل ۲۰۲۵

ketabton.com - The Digital Library



مرغۍ وژني په ونو کښې تنزرې سوزوي
دا څوک دې هره ورځ چې مو نښترې سوزوي

د حسن قاتلان دي هم د مینې نه منکر
ماښې سوزوي څوک چې ګورګورې سوزوي

په دې کښې څنګ ټپې د خپلواکۍ وائې سرېه
د ساز نه ساه او باسي او سندرې سوزوي

ژبه غوڅوي راله په ژبه چې څه وايم
په ژبه به څۀ نۀ وايم خبرې سوزوي

الوت د تخیل دې داسې لوړ ساته **الیاسه**
وختونه که هر څو درله وزرې سوزوي

ketabton.com - The Digital Library



ښائیسته شان هوا ګانو له سحر ته په سېل اوځي
ښۀ نۀ ده چې سرې چرته کښې غر ته په سېل اوځي

والله چې د پېرس د چکرونو به څۀ خوند وي
په کلي کښې یاران چې مازیګر ته په سېل اوځي

د نوي کهول د سترګو نه نۇ تلے چې حیا ده
اوس دربغه جینکۍ که هم ګودر ته په سېل اوځي

راځي به لرې نۀ دے هغه وخت زما په خلقو
کونتره به د امن لر او بر ته په سېل اوځي

الیاسه د بااکرام د ترکو هره بلا اخلي
**الیاس**ؔ کلي وال چې پېښور ته په سېل اوځي

ketabton.com - The Digital Library



ستا د کتو ستا د نظر په قیصه پوهه نهٔ شوم
تفصیل ئې راکړه دومره زر په قیصه پوهه نهٔ شوم

ما ویل چې شپه ده نن به ښهٔ ډېرې خبرې وشي
بې وخته راغے د سحر په قیصه پوهه نهٔ شوم

زمونږ په ښار چې تېرېدو رڼا ئې نهٔ کوله
تندر نیولے وهٔ د نمر په قیصه پوهه نهٔ شوم

دا چرته تا پسې لیواله سرګردانه به وي
زمکې نه تاؤ شي د قمر په قیصه پوهه نهٔ شوم

ketabton.com - The Digital Library



نــور هــم ځایونــه دي خــو دا ورســره ولــې تــړي
پـه پښـتونخوا کښـې د خېبـر پـه قیصـه پوهـه نـۀ شـوم

پـه یـو سـاعت کښـې ئـې کـړې بـل کښـې ربېـې سـړیه
شـېخه والله سـتا د ممبـر پـه قیصـه پوهـه نـۀ شـوم

یـو خـوا پـرې خلـق شـېطانان ولـې د خدا ےپـه حکـم
بـل خـوا ښـکلېږي د کمـر پـه قیصـه پوهـه نـۀ شـوم

ځومره پـه چل ئـې د **الیــاسؔ** نـه پکښـې زړۀ وړے دے
د سـترګو شـرکښـې د هنر پـه قیصـه پوهـه نـۀ شـوم

ketabton.com - The Digital Library



ورته د زړه حالونه وایم وېم چې زړه وکړمه
خو چل ئې نه راځي چې ځنګه حوصله وکړمه

د نفرتونو تاؤکه مړ نه کړم په زور د قلم
احساس به اور واخلي زما زه به لمبه وکړمه

راشه چې ته هم لږ خبر شې چې ژوند څه ته وائي
راشه چې تا ته هم د سترګو ژوند قیصه وکړمه

تسکین مې زړه ته پرې رسېږي دروغ نه وایمه
زه چې تا نه یادوؤم وایه بنه نو څه وکړمه

ketabton.com - The Digital Library



زۀ کـه لـړ کښـېنم داسـې نـۀ ده چـې ناکامـه شـومه
ژونـد یـو مـزل دے پکښـې ځـاے پـه ځـاے دمـه وکړمـه

زړۀ مـې بـاغ بـاغ شـي د خپـل ځانـه سـم خوشـحاله شـمه
لــږه ښــېګړه چــې د چــا ســره لــږ ښــۀ وکړمــه

هغـه الیـــاسؔ پسـې د مینـې پـه غـرض راغلـې
ځنګـه انکـار وکړمـه ځنګـه ورتـه نـۀ وکړمـه

توبـه مـې ویـسـتـې وه خـو بیـا مـې وکـړه
ګنـــاه د مینـــې بـــرملا مـــې وکـــړه

ســتا مـــې اونـــۀ منلـــه بـــد مـــې وکـــړه
خپلـــه انـــا خپلـــه رضـــا مـــې وکـــړه

خدایـــه نـــو بیـــا راتـــه معـــافي بـــه کـــوې
خدایـــه کـــه بیـــا چرتـــه ګنـــاه مـــې وکـــړه

پســـې جرګـــه شـــوم ننـــواتې شـــومه
پـــه محبـــت کښـــې انتهـــا مـــې وکـــړه

چـــا راتـــه څـــۀ خـــوارږه وکتـــل
دننـــه مـــات شـــومه ټقـــا مـــې وکـــړه

تـــا ســـره ختمـــه مـــې کـــړه پـــرې مېښـــوده
پښـــتو وه ســـمه پـــه ریښـــتیا مـــې وکـــړه

ketabton.com - The Digital Library



د خدای کارونه وه طوفان کښې ګېر شوم
نیوکــه څنــګ پــه ناخــدا مــې وکــړه

رڼــا ده ګرځــه بــې خطــره پکښـــې
د اسـمان پـړق شـومه برېښـنا مـې وکـړه

لا د شــعور ســکروټو تــپ لرلـــو
پـه مـړو ایـروکښـې چـې ځـلا مـې وکـړه

نــور د بــې ننګــو ســره نــه پالمــه
هســې د ځــان ســره صــلا مــې وکــړه

**الیاســـــه** ښــه کــوه د خلقــو ســره
خوداســې مــه وایــه چــې دا مــې وکــړه

ketabton.com - The Digital Library



بخت که مې کوټه سپېره تقدیر مې وي
زړه به خامخا اخته په ویر مې وي

بیا هم ارمانونه پوره کېږي نه
مات پسې هر څوکه د ملا تیر مې وي

خلق غزل نه ګوري تصویر ګوري
ځکه د غزل سره تصویر مې وي

دلته به اوس خامخا شعور راځي
وېښ که د قام دغسې ضمیر مې وي

ketabton.com - The Digital Library



ځم به تـرې خـالي خـالي لاسـونه نـو
څۀ کـه دغـه ټـول جهـان جـاګير مـې وي

غـم چـې مـې نـزدې ملګـرے کـړے دے
دا به جوړ په ليک کښې د تقدير مې وي

سترګې بـه الياســـــۀ پکښې او بـائيلم
عمـر لـه کـه دا رنګـې شـوګير مـې وي

ketabton.com - The Digital Library



ورانــه ئــې دنيــا کــړه زمــا، وران د حــده وتــے وۀ
نــن ئــې د خــورو زلفــو، طوفــان د حــده وتــے وۀ

دلتــه کښــې قــدم پــه قــدم، ويــره د مرګــي خــوره
دلتــه پــه دې ښــارکښــې خوګزران د حــده وتــے وۀ

ما خو وې په ژوند کښې به په بېرته هډو رانه شې
داسـې مـې پـه تـا بانـدې ګمـان د حـده وتـے وۀ

مــا نــه ځاربــدو، قربانېــدلو پــه قســمونو نــن
خــدا ے خبــر چــې بيــا ولــې نــادان د حــده وتــے وۀ

تــه ئــې يــادولې د جنــون تــر حــده اومنــه
ستا پـه تصـورکښـې مـې ارمـان د حـده وتـے وۀ

ketabton.com - The Digital Library



ثنګ به مې ډېوې نۀ بلولې د احساس پکښې
دلتــه د شــعور، پــوهې بحــران د حــده وتــے وۀ

زۀ ئـې ســتا د مینـې پـه تـور ښـکلیه کـافر کړمـه
ځــار ئــې د فتــوؤ شــم مُلاجــان د حــده وتــے وۀ

تـۀ خـو هـم **الیاســـــــهٓ** د حـدونو نـه وتلـے وې
هــر څــوکــه د تــا ســره جانــان د حــده وتــے وۀ

## قطعه

د باطـــــل ســـــره پـــــه جنـــــګ یم
زړۀ ور بـــــه ځـــــان تـــــه نـــــه ویم!!

د مظلـــوم پـــه حـــق کښـــې لـــیکم
زورور بـــــه ځـــــان تـــــه نـــــه ویم !!

ketabton.com - The Digital Library



## لويه خدايه !!!

ژبه دې راکړه غلې، خندګه کېنم
وس به شرنګېږم، چې جرس دې کړمه

شکرګزار به يم، خوشحاله به يم
که د ظالم د سترګو خس دې کړمه

هم به په ځان، هم به په قام ژړېږم
چې ترجمان د خپل اولس دې کړمه

زۀ به پرېوځمه د جبر په سوچ
خدايه که تندر چرته، کړس دې کړمه

بيا به هم خاندمه زۀ، ژوند به کووم
خدا ے مۀ کړه، خدايه! که بېوس دې کړمه

ketabton.com - The Digital Library



# باباجان

په بستره باندې بیمار پروت
بابا چې لږ په ډه ډه واوړېدلو
په رو اواز ئې داسې اووئیله
بچې! سبا ولې د نهې ورځ ده ؟

ستړ مې راتاوکړو، ورته ومې وئیل
بابا، سبا خو د شورو ورځ ده

بابا وانۀ ورېده نو
بیا یې تپوس وکړو د څۀ ورځ ده؟

ستړ مې راتاؤکړو پسې
لږ په لهجه کښې مې تریخوالے راغې
خُلۀ ورله غوږ ته ورنیزدې مې کړله
په لوړ اواز مې وېل شورو ده بابا...
شورو ده بابا...شورو ده بابا...

ketabton.com - The Digital Library



ستړکوکښې دوۀ اوښکې ئې وځلیدې
بیا وچې شونډې ئې لږ ولړزېدې
په ډېره مینه راته
بابا وې راشه زویه، کېنه دلته

ورځې پربېږده، ورځې پوره دي خو
دغه زما یوه خبره واوره
د وړوکوالي دې قیصه واوره

زۀ وومه، تۀ وې او همدا ځاے ؤ،
تا به تپوس کوؤ

په رنګارنګ ګلو چې الوزي دا
وایه د دغې نامه څۀ ده بابا

په مخ به ښکل مې کړلې
په مینه مینه به مې
وېل لولکۍ ده بچې !

ketabton.com - The Digital Library



د لولکۍ په اوریدو او وینا
پوره یوه میاشته به تېره شوله
د یوې میاشتې د پوښتنو نه پس
تا لولکۍ قدرې ویئل زدهٔ کړه

ستا نه به هېر وي خو بچیه زما
چې د هر څېز نوم زدهٔ کولو به دې
څومره به ډېر ډېر دې تپوس کولو
ما به د هر تپوس جواب درکوۀ

ځکه چې ستا سره خو
څنګ کښې بابا به وو ستا
ځکه بې غمه غوندې
بیا د خبرو مېنځ کښې
سترې په غېږ کښې زما
یو دم اودهٔ به مې شوې

بیا چې راپابه څېدې
په لوبو سر به شولې
بیا به دې هغه زړهٔ

ketabton.com - The Digital Library



قیصه راوخیستله
وې به دي یه بابا

تۀ دي خوا راشه کنه
زۀ چې به درغلمه
تا به وئیله بچې

اے لو لکی ده بابا
اے لولکی ده بابا

خو نن چې ما هم درنه
لکه ماشوم غونده کښې
بچیه سوال وکړلو

نو تۀ غصه غوندې شوې
جواب دي راکړلو خو
هغسې نۀ بچیه

ketabton.com - The Digital Library



## څنګه چې ما غوښتله

ځکه چې ماسره خو
په څنګ کښې تۀ وې بچې

ګنې قسم پرې خورم
د دې بوړا ماشوم هم
بابا که وې نو،

اور بدلے به ئې وې
ورله په مینه مینه

جواب وکړې به ئې وې
خوکم دې یه بچیه
ماسره تۀ ئې بچې

دا نظم ما د عابي مکهنوي د اردو د يو نظم نه پښتو ته ژباړلې دې. خو د نظم د تسلسل د پاره پکښې د نظم وروستنی برخه ژباړه نۀ ده بلکې زما خپله تخليقي هڅه ده

ketabton.com - The Digital Library



# نرے نرے باران

تنهايي کښې ورته ناست يم
د چينې د چنار خوا کښې
د يو چا په تصور کښې
زۀ د نورې دنيا لرې

او نرے نرے باران دے
ما وې خدايه ښومره ښکلے
دا نرے نرے باران دے

ketabton.com - The Digital Library



ما وې خدايه ښکلې شومره ښکلې
بل ساقي جام او جانان دے
ما وې خدايه ښکلې شومره ښکلې
په سرو سترګو مئينتوب دے
ما وې خدايه ښکلې شومره ښکلې
زلمېتوب دے زلمېتوب دے
ما وې خدايه ښکلې شومره ښکلې
دا جنون او لېونتوب دے
خو زۀ څۀ خبر ووم خدايه
دا چې زۀ پسې لېواله

دا چې زۀ پسې بې حاله
دا چې زۀ پسې بدحاله
دا چې زۀ پسې لېواله
هغه وابي چې ته څوک ئې

ته د چا پسې لېواله
ته د چا پسې بې حاله
ما وے ته مې د زړۀ سر ئې

ketabton.com - The Digital Library



ما وې ته زما دلبر ئې
ما وې ته زما سکون ئې
ما وې ته زما درمان ئې
ما وې ته زما جانان ئې
ما وې ته زما ارمان ئې
په زړګي مې د زړۀ سره
داسې داسې راوربړه
لکه هرکښې راښکې شوې
چې نرې نرې باران وې

ketabton.com - The Digital Library



## تاله کومه نامه درکړم

زما عقل دي حېران کړو
وس پخپله راته و ایه
تاته څۀ اوو یم دلیره
تاله کومه نامه درکړم

که ګلاب ګلاب دي ستائیم
نو په تا کښې از غې نشته
په سپوږمۍ که دي یادوومه
ستا په مخ داغونه نشته

ستا د سترګو په څلا کښې
ما ته خپل جهان لیده شي
بیا په خپل جهان دننه
ما ته بل جهان لیده شي
بیا د بل جهان په سوچ کښې
ما ته خپل جانان لیده شي

ketabton.com - The Digital Library



ځکه غلې شاني وايم
نه ! ګلاب به درته نه وېم
نه ! سپوږمۍ به درته نه وېم

تشبيهات د ښکلا ګانو
ستا د حسن وړاندي څۀ دي

ښه ده هيڅ به درته نه وايم
ته پخپله راته وايه
تا ته څۀ اووېم دلبره
ز ما عقل دي حېران کړو
تاله کومه نامه درکړم
تاله کومه نامه درکړم

ketabton.com - The Digital Library



# زۀ تاته پړ شوم ګلې

څومره مغروره وومه
څومره په ځان نازېدم
ما وې زما خبرې
د کاڼي کرښې دي خو
زه څۀ خبر وومه چې
مئین زړګې مې په تا
ستا د ادا د مخې
ستا د هر ناز د مخې
چرته پړکېږي به نن
ځان ته په خپل نظر کښې
چرته خړکېږي به نن
دومره خړکېږي به نن

چې بیا د چا د مخې
هیڅ به وئیلې نه شي
په دغه سوچ کښې اشنا
دومره خاموشه شومه

ketabton.com - The Digital Library



چې خندېده مې بس کړه
د خپل يارانو ښنګ کښېږي
زړهٔ چغېده مې بس کړه
ما وې چې نه به راځم

خوا له دي يه جانانه
خو يه ځان پوهه نه شوم
در ته دي راغمله بيا

تا ته مې سر ټيټ کړو
غرور مې خاوري شولو
په ځان وس نه نازېږم
وس چې ته هر څهٔ وائې
ما ته قبول دي خدائيګو
په سر او ستر ګو ګرانه
وايه چې هر څهٔ وائې
زه تا ته پړ شوم ګلي
زه تا ته پړ شوم ګلي

ketabton.com - The Digital Library



## زۀ ترکومې به نړېږم ؟

ژوند له مېنې لره
امن له سکون له
په خيالونوکښې مې داسې
په خيالونو ورپسې شم
چې د ځانه خبر نۀ شم

پسې منډې وهم ځمه
خيال مې واخلمه په مخه
بيا ئې چرته پرېښودے شم
پسې ځمه ځمه ځمه

ketabton.com - The Digital Library



لکه څنګ چې بعضې خلق
په يو غل پسې پره شي
عن ترکوره پسې زغلي
داسې ما هم پره کړے
ښکلے خيال د نازنين وۀ
ګل ورين وۀ مرمرين وۀ
خيال څۀ داسې وۀ ملګرو

ناڅاپي به زما خوا له
چرته هغه ښکلے راشي
او تر څنګ به زما کېښني
بيا به دواړه سره يو ځاے
دوۀ خوږې خبرې وکړو

د وطن په ورشوګانو
په ښائست او ښکلا ګانو
د مزې خبرې وکړو
خو ريښتيا ريښتيا به وايم

ketabton.com - The Digital Library



کوم دے اے پروردګاره !
زمونږ دومره نصیب چرته؟
چې په خیال کښې سره وکړم
زۀ د خوند او ژوند خبرې

بس چاپېره ګنګوسے شوے
ثوک مې غلے شان په خوا کښې
خپل ملګري ته لګیا شو

نن سحر په باجوړ کښې
ثوکسانو په ټو پکو
د دستار سړے شهید کړو
یو د کار سړے شهید کړو

ګنګوسه اوریده شۀ وه
زۀ په خیال کښې سم خفه شوم
غریو نیولے په ژړا شوم
ما وے اے زما خالقه!

ketabton.com - The Digital Library



زمونږ دومره نصیب چرته ؟
چې په خیال کښې مې نن کړي
وے د خوند او رنګ خبرې
زمونږ دومره نصیب چرته ؟
چې په خیال کښې مې نن کړي
وے د ژوند او ترنګ خبرې

کوم دے اے پروردګاره!
زۀ بې وسه تس نس شوې
بدنصیبه یم پښتون یم

در په در خاورې په سر یم
په شته کور کښې زۀ بې کوره
بې نوا کډه په سر یم

ketabton.com - The Digital Library



چې لحظه لحظه زورېږم
په شتمنه پښتونخوا کښې
زۀ ترکومې به ژړېږم؟
زۀ ترکومې به قتلېږم ؟
زۀ ترکومې به نړېږم ؟
زۀ ترکومې به نړېږم ؟

## قطعه

چـــې پـــه کـــوم رنـــګ دې تېرېـــده پکـــار وۀ
ژونـــده پـــه هاغـــه ډَوَل تېـــر مـــې نـــۀ کـــړې

مـــا دې ګرېـــوان رېښـــې رېښـــې کړلـــو خـــو
خفـــه پـــه دې يمـــه چـــې زېـــر مـــې نـــۀ کـــړې

ketabton.com - The Digital Library



## کاش چې سترګې مې ورغلې په خوب نۀ وې

نیمه شپه وه خاموشي وه
په جهان تیارې خورې وې
یو عجبه نظاره وه
ټول جهان اودۀ اودۀ وۀ

زۀ د خیال په نیلي سور ووم
ستا سوچونه مې کوله
ستا ښائسته تصویر مې جوړ کړو

د رڼا او د رنګونو
د خوشبو او د ګلونو
د غمو او د سرو زرو
د ناؤ یاته ملغلرو

ketabton.com - The Digital Library



رنګينو کښې مې رااونغښت
د فطرت د ښائستونو
مشاطه ورته ششدر شوه
د ښکلا د جهانونو

ما هم غلي زړه ته اووې
ته خبر ئې چې د چا دے

دا تصوير چې ما تخليق کړو
د خپل فکر په لاسونو
خو زړه ما پورې مسکے شو
لکه زه چې لېونے يم

بيا مې خود مزغو له راغے
اسوېلي مې د خُلې لاړل
هئ افسوس دے
هئ ارمان دے

کاش چې زه پرکاله نه وے
د خوبونو په دنيا کښې

ketabton.com - The Digital Library



کاش چې سترګې مې ورغلې په خوب نۀ وے

زۀ د خوب عالم کښې نۀ وے
ما د خوب په ځاے په وېښه
ما د خیال د دنیا لرې
په رېښتیا په حقیقت کښې

دغه ګل تصویر لیدلے
جانانه انځور کسلے

د ګلګون هېواد تصویر وۀ
د پښتون هېواد تصویر وۀ

پښتونخوا وه، پښتانۀ وو
د سکون د دمې غېږ وه
د رنګین ارمان تصویر وۀ
ښۀ ښکاره پکښې لیدے شو
د ژوندون کېفیتونه

ketabton.com - The Digital Library



زندګي پکښې موسکۍ وه
امن امن سوکالۍ وې

هر نظر کښې خوشحالۍ وې
دجنګونو ابۍ مړه وه

د ماتم په کور ماتم وۀ
د هستۍ خوږې سندرې
شور بدلې، خور بدلې
فضاګانې ګډېدلې

خو په دغه چاپېر چل کښې
ځان ته غلې شان لګیاشوم
کاش چې سترګې مې ورغلې په خوب نۀ وے

ketabton.com - The Digital Library



# سحر

یوه ورځ ولاړ یواځې
په دامانه کښې د کلي
د تیاروکډې په سر وې
تلې د شپې سره په منډه
رڼائي وه خوبولې
راتله سترګې ئې مږلې
غزونې کائینات کړې
ژوند د خپل ستړي وجود نه
ټقا او یسته تازه شو
ولولوکښې مستي راغله
جوړترې ترنګ شو په جذبوکښې
هر یو ښیز د سرور ډک شو
ښکلا ګانې په نڅا شوې
غسل اوو یستو ګلونو
د شبنم په کټوروکښې
بیا نسیم په خندا راغـے
ډک محفل ته د ګلونو

ketabton.com - The Digital Library



هر یو ګل ئې په ګډا کړو
زۀ ئې هم په تماشه ووم
ناګهانه زما خیال شو
چې پټ پټ د غره نه اخوا
نمر د خوبه رابیدار شو
ښکلې وړانګې راخورې شوې
لا ساعت په کښې تېر نۀ وۀ
ټول جهان د رڼا ډک شو
بس یو شور شو یوه غوغا شوه
هنګامې شوې
تماشې شوې
هر اړخ نه اواز راغے
سحر راغے سحر راغے

ketabton.com - The Digital Library



## هیومن رائټس

بس خو چې لږ شانې زیاتې هم اوشي
نړۍ کښې چرته د یو قامه سره
دوي بیا دنیا په سر راوخلي وائي
د دغه قوم سره زیاتے شوے دے
ځئ چې د دوي په ښنګ کښې ودریږو
مونږ په نړۍ کښې ظلم نهٔ شو لیدے
ځئ چې د دوي متې او لاس جوړ شو
ځئ چې په دوي باندې ننګونه وکړو
خو!
بل خوا که دغه حقیقت ته ګورو
چې زهٔ ښکاره او سرعام ملګرو
په پېښور او فلسطین کښې مرمه
نو دلته د دوي شونډې ګنډلې ښکاري
دلته کښې مهر وي د دوي په ژبه
ځان ته خېرخوا وائي د ټولې نړۍ
ځان ته ځهٔ بل شان مهذبه وائي
خو چې دا دوه رنګه کردار ئي وینم
د هیومن رائټس نه مې کرکه وشي

ketabton.com - The Digital Library



## مېن آف پيس

هغــــه زنــــديق چارســــوبيس
جينيــــونلي مــــېن اف د پــــيس

کارونــــه داســــې کــــوي
لکــــه شــــيطان او ابلــــيس

ډېــرو تــه ښــۀ ښــکاري خــو
زمــا نظــرکښــې خبــيس

ketabton.com - The Digital Library



سود مې پرې نه شي، خدائېګو
يوه نمرې د تمېس

بل خوا زمونږه شريف
لګيا دے دومره نفيس

وائي د جنګ دا اسيس
جېنيونلي مېن اف د پيس

د نوبل پرائز حقدار
دا جنګ ببر، جنګ نويس

ketabton.com - The Digital Library



# زمیندار

لاس کښې مې تخمونه دي
رنګ په رنګ قسمونه دي
څۀ پکښې مېوې خوږې
څۀ ښائسته ګلونه دي

کر ته ئې تیار یمه
زۀ یو زمیندار یمه

شپه ورځې خواري کووم
تل زمینداري کووم
کار باندې چې سترې شم
کار ته تیاري کووم

هر وختې په کار یمه
زۀ یو زمیندار یمه

ketabton.com - The Digital Library



هره ورځ شولګر ته ځم
کار له ځمه کر ته ځم
ګوټ پټې کښې واړووم
بیا هله چکرته ځم

ژوند کښې بنۀ کردار یمه
زۀ یو زمیندار یمه

دا چې چمنونه دي
دا چې شنۀ فصلونه دي
دا زما د تن خولې
هر خوا چې ګلونه دي

وجه د سینګار یمه
زۀ یو زمیندار یمه



ښاغلے محمد الیاس د ملاکنډ طوطه کان سیمې هاغه خوږ، شریف او با احساس شاعر ملګرے دے چې د ژوند زیاته برخه یې په مسافرۍ کښې تېره کړې ده. خو د مسافرۍ او اوږدو سفرونو د سمندرونو لویو لویو چپو او د بل وطن شګلنو دشتو هم د ده له ذهن او زړۀ نه خپله ژبه، خپل کلتور او د خپلې خاورې سره مینه نۀ ده هېره کړې

ښاغلے محمد الیاس که ژوند په دیارِ غېر کښې تېروي خو زړۀ یې د خپل وطن په حالاتو سرېکې سرېکې او ساندې ساندې دے. هغۀ که هر څو په ښکلو چمنونو او شنو باغونو کښې ناست وي، خو فکر او احساس یې له خپلې خاورې سره تړلے دے

هم دغه احساس د ده په شاعرۍ کښې بیا بیا راڅرګندېږي دې درد هغۀ په دې مجبوره کړے چې هغۀ په حسرت او اُمید سره ووایي "زۀ تر کومې به نړېږم"؟ او هم دغه ژوره پوښتنه د ده له دې شعري ټولګې نوم هم ګرځېدلے دے

محمد الیاس یوازې د یو صنف شاعر نۀ دے، بلکې د اظهار بېلابېلې لارې یې خپل هُنر ته کارولې دي ده خپل احساس کله د غزل په خوږو مصرعو کښې انځور کړے، کله یې نظم ته سپارلے، کله یې سندره ګرځولې او کله یې د هائیکو په لنډو خو ژورو ټکو کښې خپل فکر بیان کړے دے

"زۀ تر کومې به نړېږم" د یو داسې حساس، وطنپال او با احساس شاعر د زړۀ اواز دے چې د پردېسۍ له اوږدو ترخو وختونو سره یې هم د خپلې خاورې درد، د خپلې ژبې مینه او د خپل اولس غمونه له ځانه جُدا نۀ دي کړلي

خدا ے دې وکړي چې د ښاغلي محمد الیاس دا شعري مجموعه د پښتو ادب په شتمنۍ کښې یوه غوره اضافه وګرځي

پۀ ټوله ټوله مینه

**سمیع الله ګران**

مینګوره سوات


ګران خپرندویه ټولنه

Email: gransamiullah@gmail.com

0345-9523153 / 0304-5241487

ISBN 978-627-7671-38-9

9 786277 671389

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*